# اعلان

ګرانو او قدرمندو لوستونکو پښتو ډاټ نېټ د دې کتاب سره ډېره خوارې کړې ده او په ډېر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې ډېر سخت منع دي

پښتونستان

پښتو ډاټ نېټ

Distribution, posting, or copying is strictly prohibited
without written permission of Pukhto.Net

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوښکې

# ضتالونه

شیرین یار یوسفزے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوښکي مشالُونه

رنې اوښکې مشالُونه
دَ مَزل حد پرې روښان کړم

شیرین یار یوسفزے زروبی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شورو دَ الله په نوم چې رحمان اَو رحیم دے



| | |
|---|---|
| دَ کتاب نوم | اوښکې مشالُونه |
| مخونه | ۲۰۸ دوه سوه اته |
| ترتیب | نېټه وار |
| لیکونکے | شیرین یار یوسفزے |
| شعری زیار | دوېم |
| کمپوزنگ | امجد امین 628 20 90 – 0321 |
| د املا سمون | شیرین یار یوسفزے او مظهر علی |
| د چاپ کال او ځای | ۲۰۰۶ پېښور |
| د چاپ شمېر | ۱۰۰۰ یو زر |
| بیه (قدر) | ۲۰۰ روپۍ |

## درکُونه

- یونیورستی بُک ایجنسی، خیبر بازار، پېښور،
- اکیډمی بک شاپ، پښتو اکیډمی، پېښور پوهنتون،
- زرین زاده یوسفزی، شارجه عرب امارات 00971-505942423
- برېښنا لیک :shereenyar@hotmail.com



دَ کتاب واک اختیار دَ لیکونکی څخه خوندی دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تړون

چې زما د خيال تصوير دے
چې زما د خوب تعبير دے

په وفا کښې بې مثاله
په ښکلا کښې بې نظير دے

چې خوددار دے هم دلدار دے
چې بادشاه دے هم فقير دے

هم مېوه ده هم سايه ده
لکه ډکے د انجير دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوښکې مشالونه - یو تاثر

"اوښکې مشالونه" د ښاغلي شیرین یار یوسفزي د شعرونو یوه شیرینه مجموعه ده- د درد او د مینې د ارمان چې کوم خوارۀ د ځوانۍ په عُمر کښې کېدے شي د هغه ټولو خوند د شیرین یار په شعرونو کښې تر ډېره حده راظاهر شوے دے- شعر هسې هُم د خوږ درد د اظهار نوم دے او بیا شعر چې په فني معیار هُم پوره وی نو د خوږو نغمو صورت ترې ساز شی- فکری بلوغت به شائد چې د عُمر په یوۀ خاص حد کښې راځی ولې شعر چې هرکله یو فطری عطیه ده ځکه نو شاعرانه بلوغت د ځوانۍ په هغه ورځو شپو کښې اکثر ښکاره شی چې نوره دُنیا ورته د لېونتوب دور وائی- شائد چې عشق او محبت د جنون په یو خاص حالت کښې د پوهې تر بامه رسی- خبر نۀ یم چې ستر حمزه صېب دا خبره د چا په باب کړې ده:

تا ته پوهه راغله د ځوانۍ سره
ما ته هله راغله چې ځوانی لاړه

(حمزه)

د ستر حمزه صېب دا خبره د سند په توګه وراندې کېدے شی چې پوهه په ځوانۍ کښې هُم راتللے شی- دا بیله خبره ده چې دغه پوهه د کوم مضمون او د ژوند د کومې تجربې پوهه ده- ژوند پخپله لوی اُستاذ دے او شیرین یار یوسفزی چې د ژوند لۀ کومو مکتبونو سبق زده کړے نو دا خبره یقین ته نزدې ده چې په ډېر لږ عُمر کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې د شاعرانه پوهې ډېر وړد فني سفر کړے دے۔

د شيرين يار په "اوښکې مشالونه" کښې چې کومه شاعري ده او د کوم قسم شاعري ده هغه د ښاغلي د فکر غمازي کوي۔ په غزل کښې خو څرګنده خبره ده چې هغه د خپل خاطر د درد د تاثره شعر وائي۔ کۀ هر څو د هغۀ د انتهائي داخليت اظهار دے ولې د غزل د صنف اصل مُدعا او تقاضا هُم د بنيادم خپل ذات دے۔ د خپل ذات احساس يو افاقي قدر لري ځکه په دې کائنات کښې مينه، ارمان، بې وسي، بې ارزي د هر دور د انسان برخه ده۔ په کوم دور کښې هُم چې څوک د ځان په علامت کښې د خپلې مينې د جذبې او د خپلو مجبورو ذکر کوي نو دا د ژوند سره تړلي احساسات افاقي رنګ لري۔ د بنيادم د درد جذبه هر چا ته د يو رنګه احساسه راپېدا کېږي۔ په دې کښې هُم شک نيشته چې ماحول چاپېرچل او د تاريخ دوران د بنيادم په دې احساساتو اثر کوي او شاعر لۀ خپل ماحول وتے هُم نۀ شي۔ ولې بيا هُم د يوې ازلي جذبې په رنګ کښې دغه احساسات هرکله او هر چرته وي۔ د مشرقي ژبو په شاعري کښې غزل د کمال تر حده شائد په دې هُم رسېدلے دے چې دا د ذات د اظهار لۀ ټولو کامیابه وسيله ده۔

په جديد دور کښې جديد نظم هُم د اظهار دغه رنګ خپل کړے دے ولې د صنف په لحاظ نظم د ذات نه سېوا د خارج په بېلو بېلو اړخونو او د ژوند په بېلو بېلو تقاضو ښه رڼا غُرځولے شي۔ دا روايت هُم پاتې شوے دے چې غزل د حُسن و عشق او هجر وصال د ذاتي کېفيتونو د اظهار د پاره وټيلے شي او په نظم کښې د روزګار او د دوران د غمونو ذکر کېږي۔ په دغه روايت شيرين يار يوسفزے يو کامياب اُستاذ شاعر ښکاري۔ ځکه چې د "اوښکې مشالونه" د نظم په برخه کښې ئې ډېر د خوند نظمونه په مختلفو موضوعاتو وئيلي دي۔ دغه نظمونه فلسفيانه رنګ هُم لري، د خپلې خاورې سره د شديدې وابستګي احساس هُم. د ارمان انکاځې هُم پکښې اورېدے شي او د فني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښت قدر هم لري-

معلومه نهٔ ده چې شیرین یار یوسفزی شاعري کله، څنګه او په کومو حالاتو کښې شروع کړې ده خو د کلام د پختګۍ نه ئې دا برېښي چې د پښتو د شعري ادب ئې ښهٔ مطالعه کړې ده او د شعر په بابله پوخ تنقیدي شعور هم لري- له غزلونو ئې داسې ښکاري چې د حمزه شینواري د شعر نه ئې ژور ولې مثبت تاثر اخستے دے او په شعر کښې ئې د عصر د شعر د معیار ښې نښې برېښي-

د "اوښکي مشالونه" شعرونه په مجموعي توګه دا تاثر ورکوي چې شیرین یار یو ترقي پسنده شاعر هم دے او شاید چې د ترقي پسندو یا نورو نظریاتي شاعرانو سره ئې ناسته پاسته هم ډېره شوې وي- دا هم کېدے شي چې شیرین یار د قامي او نظریاتي سیاست سره تعلق هم لري- څکه نو عجیبه علت دا هم دے چې شیرین یار ځېنې ځایونه خپل احساس خبره هم کوي نو د ترقي پسندي په اصطلاحاتو او پېرایه کښې ئې کوي- ولې د کلام د سرسري مطالعې نه ئې داسې نتیجې اخذ کېدے شي چې اتفاق ورسره ضروري نهٔ هم دے- شاعر شاعر وي- که د هر رنګ، هر مکتب او هرې نظریې شاعر وي او ما ته دا هم معلومه نهٔ ده چې په دا مجموعه کښې د شیرین یار د زنداني ورځو شپو شاعري شامله ده او کهٔ نه؟ خو په مجموعي توګه پکښې د هغهٔ د پرېشان خاطر د اواز بازګشت اورېدے شي-

دا مجموعه به یقیناً چې د پښتو په شعري ادب کښې د قدر وړه اِضافه وي او کهٔ څوک د شیرین یار یوسفزي د ذاتي ژوند د ناکردو نه خبر شول نو شائد چې د دې کتاب به نوره هم زیاته پذیرائي وشي-

زهٔ د ښاغلي شیرین یار یوسفزي مننه کوم چې ما ته ئې په دې ښکلي مجموعه د یو څو خبرو لیکلو بلنه راکړه- کهٔ هر څو زهٔ د وخت په داسې حالاتو کښې ګېر یم چې په تفصیل سره مې پرې هغه رنګ لیکل ؤنهٔ کړے شول څومره چې ئې حق وو ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په منده منده او په بیړه بیړه لیکلې شوُو دې څو خبرو د پاره زهٔ د بناغلی محمد اسرار اتل هُم ډېره مننه کوم چې هرکله ئې ما ته د دې لیکلو یاددهانی کړې ده۔ ورسره د شیرین یار یوسفزی د ورور ګوهر ننګیال هُم ممنون یم چې ډېر پهٔ صبر ئې زما د دې نیمګړی لیک انتظار کړے دے۔

پروفېسر ډاکټر راجولی شاه خټک

پښتو اکېډیمی، پېښور پوهنتون

۱۸ اکتوبر ۲۰۰۵ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ بنديوان شاعر اوښکي مشالونه

د کل انسان د احساساتو او جذباتو د اظهار د ذريعو او طريقو نه پورته د شاعر انسان احساسات او جذبات چې کله د شعر په ذريعه او طريقه کښې بيان شي نو کۀ هغه سانده او نوحه وی نو وير ژړا کښې ئې زړۀ راښکونکے اثر وی او کۀ د خندا، ښکلا، رنګ او نُور، زلفو او رُخسار په ژبه خپل احساسات شعر ته وُسپاری نو د ګردونو، ريګونو نه لاله زار جوړ کړی او تصور به درله ښکلے او رنګين کړی- دغه وجه ده چې شاعِر د غم او درد، ګُل او خار، خندا او ښکلا مجموعه ده، لکه چې په ځان کښې ټول کائنات لری- په دغه حواله شاعر انسان ته د خپل ماحول او چاپېرچل او ټولنې نمائنده ويلے کېږی- ځکه خو محققين چې هرکله د تېرو زمانو تحقيق او څېړنه کوی نو هغوی د هغه تېرو زمانو د دورونو شاعرانو او ليکونو نه د وختونو د حالاتو وارداتو او واقعاتو په رڼا کښې هر څۀ اخذ کوی- په دغه حواله مونږ شاعر ته د وخت غږ، غوږ او ژبه ويلے شو-

دلته چې نن مونږ د پښتو د يو تکړه او ويښ شاعر شيرين يار يوسفزی د شعرونو مجموعه "اوښکې مشالونه" راخلو نو د هر څۀ نه اول به د انسانی فطرت هغه احساس په نظر کښې لرو چې انسان فطرتاً ازاد او د رڼا محرک پاتې شوے دے نو ځکه کۀ شيرين يار يوسفزے دا وخت په کوټ لکهپت جېل لاهور د مرګ کوټې کښې پروت د دې ملک د تور قانون سزاوار دے نو د هغۀ په ذهن کښې د خپل پښتون فکر رڼا هُم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته او د دغې رڼا فکر نوم "اوښکې مشالونه" دے۔

د لاهور په قيد و بند کښې دلته ما ته په تاريخ کښې د ډېرو پښتنو بنديوان فکرونه رايادېږي او هر پښتون ته پنجاب په خپلو چشمو کښې کتلې دی۔ د دغه تولو لۀ پاره ما ته د محترم قلندر مومند دا شعرونه مخې مخې ته کېږي:

چې په خوشحال په رنتهمبور کښې وُشوې
هغه کانې په ما لاهور کښې وُشوې
د رڼا ناوې دغه تولې قيصې
ما سره ستا د مينې تور کښې وُشوې
د اشنا ياد د قفس ورمات کړو
بېلتونه ډزې دې په کور کښې وُشوې

د لاهور پنجاب د بنديوانو دغه تسلسل چې دا وخت شيرين يار يوسفزی ته رارسی نو دلته د قلم او حرف د تقدس په حواله رحمت شاه افريدی ته هُم عېن هغه سزا اورولے شوې ده چې د پنجاب يو جج د يو پښتون د مقدمې په وخت هائی کورټ، لاهور ملتان بېنچ کښې وئيلې وُو۔

"ملزم چونکہ پٹھان ہے اس لیے منشیات کیس میں ملوث ہونا غیریقینی نہیں۔"

د هائی کورټ ملتان بېنچ دا ريمارکس چې مونږ د قلم او حرف په حواله رحمت شاه اپريدی او ښاغلی شيرين يار يوسفزی سره د تول پښتون په حقله راواخلو نو د هر پښتون په حقله د تول پنجاب تاثر هُم دغه دے لکه چې پنجاب د تول پښتون په مقدمه کښې مدعی هُم او پخپله گواه هُم دے او زمونږ په حقله دا وائی:

فقیہہ شہر بولا بادشاہ سے
بڑا سنگین مجرم ہے یہ آقا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسے مصلوب ہی کرنا پڑے گا
کہ اس کی سوچ ہم سے مختلف ہے۔

پهٔ دغه لاهور کښې د پښتو د قلم دغه دوه بنديوان نن هم پهٔ تيارهٔ زندان کښې فکرونه مشالونه لری او زهٔ چې دلته د بنديوان شاعر پهٔ قېد و بند کښې د ازاد پښتون فطرت شعرونه "اوښکې مشالونه" گورم نو د يو څو کلامونو نه علاوه ئې د کلام مجموعي تاثر دا دے چې هغه د ذات قېدی نه بلکې دې ټول نظام کښې د رياست يو داسې باغي قېدی دے چې پهٔ زندان کښې هُم د ټول پښتون خبره کوی او لکه څنگه چې د يو طوطي يا د بل الوتونکی مارغهٔ نه پهٔ پنجره کښې د بندېدو باوجود د الوتو فطرت څوک نهٔ شي اخستے، دغه شان د بنديوان شاعر فکر او خيال هُم څوک رااېسارولے نهٔ شي، نو څکه خو وائی:

لار کښې د مقتل کهٔ وُدرېدلے يم
څهٔ به تر مرامه رسېدلے يم
ستا پهٔ گُل رخسار چې خلېدلے يم
تل لکه د پرخې ژړېدلے يم
ستا چې د کاکل څړی سمسوره ده
دا لکه سپرلے زهٔ غوړېدلے يم
ستا د ژوند فِضا چې معطره ده
دا لکه نکهت زهٔ رقصېدلے يم
شپې ته د سبا د ستوری خَل وينم
کله د وحشت نه بوړنېدلے يم
داسې کوم جرس تتر وهلے شي
زهٔ لکه پاڅون ته غرېدلے يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاعر متعلق د بعضو خلقو خیال دے چې دے خو یا د نرکسیت ښکار وی او یا د ذات دومره قېدی وی چې د ذات د خول نه هدو بهر نۀ شی وتلے- شاعر یو غېر مستقل مزاجه او یو خیالی کردار یادېږی چې افلاطون هُم ناخوښه کړے وو- خو د نوی دور شاعر چې هرکله په مزاحمتی دور کښې کوم رول لوبولے دے نو بیا ''خطرناک مبلغ'' یاد شوے دے- په دغه حواله چې زۀ د ښاغلی شیرین یار یوسفزی شاعری ته گورم نو د ''پنجاب زندان'' او د ''پنجاب قانون'' ترې هُم د شاعری زور اخستے نۀ دے بلکې چې څومره ترې چاپېره حصارونه جوړ شوی دی نو دومره عین د انسانی او پښتنی فطرت په رڼا کښې دې پښتون باغی په شعر کښې وېیلی دی چې:

د یارانو ترون غوارو

مدام مرګ د پهلتون غوارو

د مرګ کُومی کښې هُم یاره

سرګرمی د ژوندون غوارو

د جرس په هر یو غږ کښې

نوے نوے پاڅون غوارو

زۀ د نثری مصروفیاتو په وجه د شعر د مطالعې نه غېرحاضر پاتې شوے یم خو د شیرین یار یوسفزی د ''افغان کُلونه'' په حواله اوس دا ''اوښکې مشالونه'' زما خوښ شعرونه دی- زۀ په شاعری د فنی اُستاذانو او د شعرونو ورکشاپ کښې د ''فنی مېکېنکانو'' په شان پُرزه په پُرزه کتو قائل نۀ یم بلکې زۀ د شعر دننه خیال، فکر او پېغام ته ګورم- خو زما دعوی' ده کۀ چرې د شیرین یار یوسفزی دا ''اوښکې مشالونه'' چا د شعر د فن د اُستاذانو ورکشاپ ته یوړل نو وزن، بحر اصطلاحات او د شعر چې څومره لوازمات دی هغې کښې به کش کرپ وُنۀ مومی بلکې دا به وائی چې شیرین یار یوسفزی په شعر کښې خیال، فکر او پېغام د وزن او بحر په چوکاټ کښې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیوست کړی دی لکه سرکش باغی چې خوک په زنځیرونو کښې راښند کړی-

هم دغه شان شیرین یار یوسفزے د لاهور قید و بند کښې بقول فیض احمد فیض د دې شعر په مصداق وائی:

متاعِ لوح و قلم چھن گئی تو کیا غم ہے
کہ خونِ دل میں ڈبو لی ہیں انگلیاں میں نے
زباں پہ مہر لگی ہے تو کیا کہ رکھ دی ہے
ہر ایک حلقۂ زنجیر میں زباں میں نے

نور البشر نوید، پېښور-

۳۱ جنوری ۲۰۰۶ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ فکر و فن پهٔ هنداره کښې دَ اوښکو مشالونه

شیرین یار یوسفزے خلمے لیکوال دے خو فکری او فنی اړخونه ئې پهٔ کم عمری کښې پهٔ ګڼو برخو وېشلے شوی دی- د دهٔ تاند تپاند جذبات هر څو کهٔ د خوانی پهٔ بام غزؤنې کوی او شاهینی وزر ئې الوت ته چمتو دے خو بیا هُم ورسره د ادبی ژوند یوه داسې پنګه پرته ده چې دغه تاند تپاند جذبات ئې هېڅ کله هُم لهٔ خپل سمت او لارې نه نهٔ ورکوی بلکې لا ورله فکر او نظر ته خُلا بخښی او خپل مرام و مقصد پله ئې پاروی او داده کوی- شیرین یار کهٔ د سماج د لمبه لمبه حالاتو سره دغرې لپاره د خپل قلم پهٔ زور خان تر اخبارونو او مجلو رسوی نو د انتقاد دَ بې نیامه تېغ پهٔ لاس هُم د خپل رسا فکر پهٔ زور پهٔ هر ادبی مکتب ورګډېږی- کهٔ د خپلې پښتو ژبې د صحیح لیک لوست د پاره هاندې هڅې کوی، د پښتو پهٔ املا، لیک دود او شعری وزن، بحر کتاب لیکی نو دغه مینه ئې د ژبل تورو تمبو شا ته هُم د فکر او شعور زور ته دوام ورکوی- څکه خو د ابی خلقو سره مسلسل د لیکونو لهٔ لارې کلکې اړیکې لری، څهٔ چې د دهٔ د پښتو ژبې ادب او پښتون اولس سره د مینې ثبوت ښکاره کوی- د جېل ژوند هر څو کهٔ د دهٔ د ذات سره اهم تعلق لری او د دهٔ وجود قېد دے خو د دهٔ د فکر او فن او شعری ښکلا نه هېڅ کله ګېره نهٔ شی چاپېرولے: لا چې نورې ورکښې د وسعت او پراختیا لارې پیدا کوی —— خو کهٔ مونږ د شیرین یار پهٔ دغه ګڼ اړخیز ادبی ژوند کښې د دهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستقل مزاجي رنګ لټوو نو هغه ډېر په شدت سره د ده په شاعرۍ کښې جوت او ځرګند لیدے شي کوم چې نن د هر پښتون په وړاندې د ده د اولنۍ ټولګې "افغان ګلونه" او دا دے اوس د "اوښکې مشالونه" په شکل کښې برخېره پروت دے- د شیرین یار په ټنه بوده کښې د شاعر زړه درد لکه د روح داسې وردننه شوے او دغه شاعرۍ د ده دردېدلي احساسات او جذبات په هر لور داسې شیندلي دي چې که د پښتانه وطن د خاورې او تاریخ وياړنې قیصې او ستائېنې پکښې دي نو د پښتون اولس د وحدت، يووالي او خپلواکۍ د ضرورت سره سره پکښې د دوی د ژوند د ځينو بې وسو او مجبورو خاکه ډېره صفا او ځرګنده رابښکلې شوې ده- دې سره سره د شیرین یار د تنقید د بې نیامه تېغ نه هغه خودغرضه، د استعمار دلالان او بې ضميره واکداران هم بچ نه دي پاتې شوی چې منصفان ئې هُم طرفداران دي او تل ئې د مظلوم اولس وينې څکلي او چا چې تل د دغه اولس خاوره په شاړولو شډولو او وطن په ويرانو کښې د بدلولو هڅه کړې ده، شیرین یار د خپل کلي، خپلې خاورې او وطن په هر ډګر د دغه رنګ قوتونو په ضد ولاړ دے او هُم دغه د ژوند مزاحمتي برخه ئې د خپل رسا فکر په زور د شعر جولۍ ته غُرځولې- شیرین یار دغه مزاحمت د خپلې خاورې، پښتنې اقدارو، رواياتو او دې خاورې سره تړلي هر څيز او د انسان د ښېګړې او سُکالۍ په غرض د خپل ژوند مقصد و مرام بولي- هُم د ژوند دغه تاودو سړو نه ئې د حالاتو سره د مقابلې چل زده کړے ځکه خو د شیرین یار فکر و فن هُم بنائي چې دے د حالاتو غلامي نه قبلوي او نه ورسره د سمجوتې په لاره ښکاري-

د حالاتو په ضد ولاړ شیرین یار دغه انقلابي تصور، د ده په خيال خور مزاحمتي رنګ، د فکر وحدت او د فن کمال دے د خپل عصر د شاعرانو نه نه يواځې بېلوي بلکې يو ځانګړے مقام هُم ورېخښي- ځکه خو ئې شاعرۍ د يو ځانګړې ښکلا او تهذيبي شائيستګۍ سره سره د لفظونو د زړه پورې استعمال هنداره هُم ده او د ژوند د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقتونو او هنګامو، قامي فکر او اولسي مسئلو د بیان او اظهار اثرناکه ذریعه هُم ده- د شیرین یار یو خانګړے اسلوب دا هُم دے چې کۀ د ژوند پۀ کړکېچونو کښې هر څومره ظلم جبر او بې انصافي سره مخ شوے دے خو خپل شعر ئې د بې خایه نعرو، چغو او سُورو (ویرویرانو) نه بچ ساتلے دے- هر څو کۀ ورته پۀ دغه لارو، پړاوونو د ناکامي او بې وسي مخه هُم شوې خو دغه د زړۀ ماتي او مایوسي قیصې ئې د شعر برخه نۀ ده ګرځولې او شعر ئې د داد عزم او جرأت نه عبارت دے- "اوښکې مشالونه" کښې د قامي فکر، تولنیز ژوند د غُبنتنو، امن او انسان دوستي سره د مینې هغه لازوال جذبه هُم د شیرین یار لۀ ذاته چاپېره چورلي کومه چې دے د خپل محبوب لۀ پاره لري (لکه چې د انس، جنس، قام، کلتور، ژبې، خاورې او وطن وارو پۀ شکل کښې خپل بیل بیل محبوب لري)- دغه راز شعرونه ئې خاې پۀ خاې داسې احساسات لري کوم چې د مینې د هر تعلق د ناکامي او کامیابي دوارو حال وائي او د دۀ د خُوږ خُوږ ژوند زړۀ نه راوتې جذبو لۀ د سندرو ژبه ورکوي-

شیرین یار د ښۀ شعر لیک او پۀ ادبي لارو چارو د مزل هُنر د چا اُستاد یا کوم ادبي مکتب کښې د ناستې نه نۀ دے زده کړے خو د خُوب نه د خوب تر لۀ پاره ئې د کتابونو، مجلو او اخبارونو هره پانه لټولې پۀ هر څۀ ئې ژور او تنقیدي نظر اچولے او کله چې پۀ عملي ژوند کښې د لمبه لمبه حالاتو سره مخ شوے نو احساس او جذبې ئې اور اخستے او فکر ئې راولاړ شوے دے او هُم دغه څۀ دا دے شیرین یار تر یو داسې خایه رارسولے دے چې د "افغان ګلُونه" او "اوښکې مشالونه" نه پس د پښتو پۀ املا، بحر او وزن هُم کتاب لیکي کوم چې بـه دېر زر د لوستونکو د نظره تېر شي څکه به زما دا ویېل بې خایه نۀ وي چې شیرین یار د یو ښۀ زیرک او استاد شاعر سره سره یو ښۀ نثر نګار هُم دے او نقاد هُم-

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرین یار خپله تخلیق او تحقیق کوی او پخپله ورته پهٔ تنقیدی نظر هُم گوری او پهٔ نتیجه کښې یوه درسته، ځانگړې او مناسبه کړنلاره خپل قلم او خیال له ټاکی- هُم دغه راز خپل عملی ژوند کښې ئې هُم قدم پهٔ قدم دَ دغه لارې "مشالونه" بل کړی- الله دې وُکړی چې دَ شیرین یار دَ قلم او قدم او اوښکو واړه "مشالونه" دَ دهٔ دَ روښانه سحرونو زیرے پهٔ برخه کړی-

محمد اسرار اتل

آشنا منزل

باغ حرم، لوند خوړ، مردان-

نېټه : دَ فرورۍ اولنۍ ۲۰۰۶ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امیل

## غزل برخه


| شمېر | وړومبی مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | ما درته دَ زلفو دَ سودا ؤوي | ۲۷ |
| ۲ | تا مې کړے عیادت دے | ۲۸ |
| ۳ | دَ بلبلو دَ نوا خبرې ؤکړه | ۲۹ |
| ۴ | بې آبه نهٔ یم چې به آب أخلم | ۳۰ |
| ۵ | دَ خپل خیالونو تماشا جوړؤم | ۳۱ |
| ۶ | کهٔ بلبل لره غُنچه ده | ۳۳ |
| ۷ | دمه شپه کښې هم شوګیر یم | ۳۴ |
| ۸ | نهٔ اباسین کوی اوس ما ته پهٔ چپو خبرې | ۳۶ |
| ۹ | یاره دَ تا دَ خط او خال خبره | ۳۷ |
| ۱۰ | کوه بُلبُله دَ رنګینو پسرلو خبرې | ۳۸ |
| ۱۱ | زهٔ چې پهٔ زړونو حکومت کؤمه | ۳۹ |
| ۱۲ | پهٔ کوم سبا آو پهٔ بېګا کښې أوږه شوی نهٔ یُو | ۴۰ |
| ۱۳ | لږه سا به مې پهٔ سا شی | ۴۱ |
| ۱۴ | رضا پښښه دَ تقدیر شی | ۴۳ |
| ۱۵ | ستا پهٔ چم کښې بې آرزی ده | ۴۴ |
| ۱۶ | چرته دے همرا زما لهٔ خوا تلے | ۴۵ |
| ۱۷ | ته کهٔ پهٔ لر آو کهٔ پهٔ بَر اوسېږې | ۴۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| شمېر | وړومبۍ مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۱۸ | کۀ تر ځنګه مې شباب دے | ۴۷ |
| ۱۹ | څو کۀ یو مو پۀ لاړ زغل دے | ۴۸ |
| ۲۰ | عمارت دَ مال او سر پکښې معدُوم دے | ۴۹ |
| ۲۱ | زۀ نېږولے ستا دَ مینې پۀ قصُور یم | ۵۰ |
| ۲۲ | ښکلے یار پۀ مشِن زړۀ مې خبر کوم دے | ۵۱ |
| ۲۳ | ارمانونه سبزه زار دے | ۵۲ |
| ۲۴ | یو لۀ زلفو دې شبخون دے | ۵۳ |
| ۲۵ | داسې نَه چې بې تالاش آو بې تدبیر یم | ۵۴ |
| ۲۶ | څوک به سپورے و ته هم ئې قریب نۀ کا | ۵۵ |
| ۲۷ | چخنې شوے چې دَ پښو لاندې دستُور دے | ۵۶ |
| ۲۸ | دَ بُلبُل خوږه نوا یم | ۵۷ |
| ۲۹ | ځنګ سَره سَره غرمه | ۵۸ |
| ۳۰ | زۀ پۀ سترګو دَ شعور هسې بینا یم | ۵۹ |
| ۳۱ | روح مې کومې بلا وُړے دے هر چا زُده | ۶۰ |
| ۳۲ | جمعیت مې خور کاکل دَ لَیلا یوسی | ۶۱ |
| ۳۳ | استقبال ئې لاس پۀ نام دَ خط رقم ته | ۶۲ |
| ۳۴ | ویښ ادراک لۀ تغافله رابېدار کړم | ۶۳ |
| ۳۵ | ستا دا یو هسې انتشار وژارم | ۶۴ |
| ۳۶ | تغافل دې دومره زیات شو | ۶۵ |
| ۳۷ | چې ماضي باندې خپل حال ږدی | ۶۶ |
| ۳۸ | چې ښۀ یار دے کنار هسې | ۶۷ |
| ۳۹ | کۀ دې خلۀ زما پۀ خلۀ شی | ۶۹ |
| ۴۰ | تا نیولے خپل ډګر دے | ۷۰ |
| ۴۱ | للمه، دشته، سم او غر پیکه پیکه دے | ۷۱ |
| ۴۲ | ډېر کۀ منزل ته مو مزل وُنۀ کړۀ | ۷۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| شمېر | ورومبۍ مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۴۳ | سپين جبين وَ ته ئې رام "ماهِ تمام" بيا | ۷۳ |
| ۴۴ | خندِ و خار دے، کندکپر دے | ۷۴ |
| ۴۵ | ستا په عشق کښې چې بدنام دے | ۷۵ |
| ۴۶ | نۀ خپل ځان وَ ته په ځنګ يم | ۷۷ |
| ۴۷ | څو چې په شپه دې اوربل خور نۀ شي | ۷۸ |
| ۴۸ | دَ ښائستونو دَ منظر خبرې | ۷۹ |
| ۴۹ | تا کۀ وړک دې خُوږ نظر کړۀ | ۸۰ |
| ۵۰ | هر يو خيال چې مې حَسين دے | ۸۱ |
| ۵۱ | دَ شوخو سترګو مست نظر خوربږی | ۸۲ |
| ۵۲ | چې راپېښه جُدائی ده | ۸۳ |
| ۵۳ | دَ اهونو کۀ طوفان دے | ۸۴ |
| ۵۴ | تنهائی ده، ځان ځانی ده | ۸۵ |
| ۵۵ | نرۍ شونډې کۀ دې پاڼې دَ ګُلاب دی | ۸۶ |
| ۵۶ | مست خَراب دې چې دَ سترګو په صهبا دے | ۸۷ |
| ۵۷ | ستا دَ زلفو په سودا مې ژوند حساب دے | ۸۸ |
| ۵۸ | خال په زنه، په رخسار چې لړ او بر ږدی | ۸۹ |
| ۵۹ | يو سکوت دے، خاموشي ده | ۹۰ |
| ۶۰ | دَ اُلفت په هر يو راز او بِنا زده دے | ۹۱ |
| ۶۱ | چې دَ ښکلو تِکانه ده | ۹۲ |
| ۶۲ | خلاص دَ زلفو ئې زندان شي | ۹۳ |
| ۶۳ | راستنه هسې ايام شي | ۹۴ |
| ۶۴ | په چا کله دومره ګران يم | ۹۵ |
| ۶۵ | هغه سپرلے ستا دَ نظر لتۀوم | ۹۶ |
| ۶۶ | په خپل آب باندې پوره ده | ۹۷ |
| ۶۷ | څوک دې زُلفې څوک مژګان دی | ۹۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| شمېر | وړومبی مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۶۸ | دَ یار یاد کهٔ زورَور دے | ۹۹ |
| ۶۹ | تل زما دغه دُعا شي | ۱۰۰ |
| ۷۰ | کهٔ پهٔ دَم او پهٔ دُعا شي | ۱۰۱ |
| ۷۱ | اضطراب او دَ سکون خبرې کېږی | ۱۰۲ |
| ۷۲ | دَ مهتاب هسې رڼا دے زما یار | ۱۰۳ |
| ۷۳ | لکه گُل ئې نزاکت دے | ۱۰۴ |
| ۷۴ | دا یو څهٔ رنگ له نگار دے | ۱۰۵ |
| ۷۵ | شرک دَ زلفو کښې فنا شم | ۱۰۶ |
| ۷۶ | کهٔ ښائست کښې غېرت وے | ۱۰۷ |
| ۷۷ | ما زده – چې زما شام او سحر تلے | ۱۰۸ |
| ۷۸ | لېونتوب کهٔ مې شُهره شو | ۱۰۹ |
| ۷۹ | څهٔ به پاتې دَ زړهٔ دم وی | ۱۱۰ |
| ۸۰ | هغه سترگو وَته بیا سترگې پهٔ لار یم | ۱۱۱ |
| ۸۱ | دَ یارانو محفل خور دے | ۱۱۲ |
| ۸۲ | څو مئین دې فرزانه دے | ۱۱۳ |
| ۸۳ | اور ئې پای نَه تر سر واخست | ۱۱۴ |
| ۸۴ | غم پهٔ زړهٔ کهٔ دَ جانان شته | ۱۱۵ |
| ۸۵ | دَ ملت پهٔ اُفق ستورے دَ سبا یم | ۱۱۷ |
| ۸۶ | درسته شپه لکه دَ پرخې پهٔ ژړا یم | ۱۱۸ |
| ۸۷ | دَ مرام پهٔ خوشې لاره یک تنها تلو | ۱۲۱ |
| ۸۸ | خپل نظر لره رڼا یم | ۱۲۲ |
| ۸۹ | خود وَتلے لهٔ شعور یم | ۱۲۴ |
| ۹۰ | څو دا اوښکه مې سره ده | ۱۲۵ |
| ۹۱ | لکه دَ پرخې وربدلے نهٔ شې | ۱۲۶ |
| ۹۲ | نهٔ پهٔ ما او نهٔ پهٔ تا یم | ۱۲۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| شمېر | وړومبۍ مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۹۳ | دَ صحرا دَ هر يو ګل سپورے دَ سر شي | ۱۲۸ |
| ۹۴ | دَ اغيار لره اغيار يه | ۱۲۹ |
| ۹۵ | دَ غل نوم دلته سرکار دے | ۱۳۰ |
| ۹۶ | خوند دَ مازيګر اَو سحر چرته دے | ۱۳۱ |
| ۹۷ | دي انصاف ستا دَ "قانون ته"! | ۱۳۲ |
| ۹۸ | چي کاتۀ دي هومره نور شي | ۱۳۳ |
| ۹۹ | ستا دَ وعدي غُندي اوپره خبره | ۱۳۴ |
| ۱۰۰ | هغه ډکه دَ وسواس شپه مي سبا کړه | ۱۳۵ |
| ۱۰۱ | بَهانه کۀ دي پخه شي | ۱۳۶ |
| ۱۰۲ | ما دي کاکل هسي تار تار ؤليدۀ | ۱۳۷ |
| ۱۰۳ | چي لۀ وخته ناخبر يي | ۱۳۸ |
| ۱۰۴ | ستا دَ کلي ښۀ احوال دے | ۱۳۹ |
| ۱۰۵ | ستا هغه نظر به وي | ۱۴۰ |
| ۱۰۶ | ما پۀ خوب کښي ستا دَ وصل امکان ؤليد | ۱۴۱ |
| ۱۰۷ | "روز و شب" به دي بيان کړم | ۱۴۲ |
| ۱۰۸ | زۀ به څۀ وينمه چري دَ چا سترګي | ۱۴۳ |
| ۱۰۹ | لاړ کښي دَ مقتل کۀ اودرېدلے يم | ۱۴۴ |
| ۱۱۰ | دَ خزان دَ آمد ګوکي پۀ بهار کړي | ۱۴۵ |
| ۱۱۱ | عام و خاص وته معلوم شوم | ۱۴۶ |
| ۱۱۲ | چي فنا مي لۀ نظر شوي | ۱۴۷ |
| ۱۱۳ | څومره چي حيرانه ده | ۱۴۸ |
| ۱۱۴ | پت پالم، وفا کؤم | ۱۴۹ |
| ۱۱۵ | څو لکه پخوا نۀ شي | ۱۵۰ |
| ۱۱۶ | هره کريکه به اذان کړم | ۱۵۱ |
| ۱۱۷ | کۀ دي زړۀ دَ التفات شي | ۱۵۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| شمیر | وړومبۍ مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۱۱۸ | ستا اوربل چې کړۀ زما نه دومره خوږ زړۀ | ۱۵۳ |
| ۱۱۹ | خلې نه زما ئې څو اوښکلې نۀ ده | ۱۵۴ |
| ۱۲۰ | هلۀ ما ته به همکار شې | ۱۵۵ |
| ۱۲۱ | څوک چې لولپه نۀ شي | ۱۵۶ |
| ۱۲۲ | تۀ زما فکر او خیال زده | ۱۵۷ |
| ۱۲۳ | ما نه مې نظر دے ورک | ۱۵۸ |
| ۱۲۴ | دریغه یو پۀ زړۀ ماښام | ۱۵۹ |
| ۱۲۵ | دَ درد و غم او اذیت قیصه ده | ۱۶۰ |


# (نظم برخه)


| شمیر | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱۲۶ | امن او ښکلا | ۱۶۲ |
| ۱۲۷ | ازادي او وطن | ۱۶۳ |
| ۱۲۸ | اے دریغه! | ۱۶۴ |
| ۱۲۹ | خدایه ! (دُعا) | ۱۶۵ |
| ۱۳۰ | ځوانی | ۱۶۷ |
| ۱۳۱ | دَ وخت لَیلا | ۱۶۸ |
| ۱۳۲ | ګران مشر اجمل خټک ته | ۱۶۹ |
| ۱۳۳ | پوره په هر کالی | ۱۷۲ |
| ۱۳۴ | ما ته یاد شی اے وطنه! | ۱۷۵ |
| ۱۳۵ | آه — نجات | ۱۸۳ |
| ۱۳۶ | مشر نخو خان ته ! | ۱۸۷ |
| ۱۳۷ | نوحه | ۱۹۰ |
| ۱۳۸ | تخیل | ۱۹۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| شمېر | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱۳۹ | هغه او زۀ | ۱۹۳ |
| ۱۴۰ | دَ بُلبُل ناله | ۱۹۴ |
| ۱۴۱ | آه ----- دروند پښتونه! | ۱۹۵ |
| ۱۴۲ | حالات او باوَر | ۱۹۶ |
| ۱۴۳ | وطنه ----- خو! | ۱۹۷ |
| ۱۴۴ | دَ استعمار دلال ته | ۱۹۹ |
| ۱۴۵ | زړه اوښکه او دَ پښتني لښکر پۀ نوم | ۲۰۰ |
| ۱۴۶ | ښکلی دَ خپل کلی | ۲۰۱ |
| ۱۴۷ | قطعې | ۲۰۲-۲۰۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ؤوايه چې !

الله پهٔ ذات تنها دے
هر چا نه بې پروا دے

نهٔ دهٔ څوک زېږؤلی
نهٔ دے لهٔ چا پَیدا دے

پهٔ سیال دَ دهٔ څوک نیشته
دے یو دے اَو یکتا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

پـهٔ خپـل ځـان هـزار داســتانه
ســارینده او نـهٔ پـهٔ چنـګ یـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اساس

دَ یارانو ترږون غواړو
مُدام مرګ دَ بېلتون غواړو

دَ مرګ کُومی کښې هم یاره!
سرګرمی دَ ژوندون غواړو

دَ جرس پهٔ هر یو غږ کښې
نوے نوے پاڅون غواړو

دَ ښائست همه شهرت له
یو هنګام دَ جنون غواړو

اننګو دَ "نن سبا" کښې
بیا سُرخی دَ پرون غواړو

شیرین یاره! پهٔ هر حال کښې ---!
مګر خَبر دَ پښتون غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما درته دَ زلفو دَ سودا ؤوې
تا راته دَ سترګو دَ صُهبا ؤوې

درست لهٔ سر آو ماله درته تېر ځېنې
مونږه دې محفل کښې پهٔ سر بیا ؤوې

عقل، فهم، فکر لهٔ ما ورک هسې
بیا دې نظرونو کښې پهٔ غلا ؤوې

راغلې عیادت له مې؛ خو وژنې ما
ډېره پهٔ تمهید کښې دې دُعا ؤوې

وُورى تندرونه پرې باران پهٔ خېر
حال مې دَ ګُلشن راته صبا ؤوې

ستا کارهٔ بانهٔ هُم دا رَوِش لرى
تا چې شیرین یار پسې پهٔ شا ؤوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا مې کړے عيادت دے
يقيني زما شامت دے
پروادار ئې دَ خلې نۀ يم
خو دَ مينې يو عادت دے
کړم ئې خلاص لۀ هره غمه
ستا يو غم راعنايت دے
دَ پتېکي پۀ ترل نۀ وُو
هغو کړے امامت دے
خپل خوارۀ اجزاء راټول کړه
ستا لۀ مخه عبارت دے

يار حساب دَ بوسې غواړي
شيرين يار باندې قيامت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بلبلو دَ نوا خبرې ؤکړه
دَ چمن اَو دَ صبا خبرې ؤکړه
مخ اَو زلفو شخه بیا خبرې ؤکړه
دَ سبا اَو دَ بېګا خبرې ؤکړه
دَ ښائست دَ نزاکت ستائینه ښه ده
ولې دا چې دَ حیا خبرې ؤکړه
دَ رنګونو هغه ډک مابنام تالا دے
اے واعظه! اوس پهٔ سا خبرې ؤکړه
پهٔ هَیبت دَ سپینو تُورو کا وارونه
بیا دَ لېچو دَ ادا خبرې ؤکړه

بیا به څهٔ وی چې ایام پهٔ اختتام وی
شیرین یار ته شه پخلا؛ خبرې ؤکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې آبه نهٔ يم چې به آب آځلم
یاره! لهٔ تا دَ سوال ځواب آځلم
هر يو عنوان دَ تا لهٔ باب آځلم
زهٔ انتساب لهٔ خپل نصاب آځلم
پهٔ هغه زلفو، هغه مخ مې قسم
لهٔ "روز و شب" حساب كتاب آځلم
سرو اننګو دې خولَې ونُيؤلې
څنګ انتقام پهٔ آب و تاب آځلم
واعظه! دومره پهٔ شتاب وُلې يې
ايله قدم دَ خپل شباب آځلم
كله ساقي، كله واعظ رادرومي
چرته تسبې، چرته شراب آځلم

شيرينه ياره! شمله جګه لرم
پهٔ دې عتاب كښې دومره تاب آځلم

۲۹_۱۰_۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خپل خیالونو تماشا جوړؤم
څو تصویرونه دَ اشنا جوړؤم

مِینا تر خلې کا چې جُوته شی شراب
سِهل ترکیب سره صُهبا جوړؤم

ما وې: سېوا دَ دیدن تنده شوه؛ لا
تا وې: مَېدان دَ کربلا جوړؤم

ما وې: دَ زلفو مخ نېوے ئې ؤکړئ
تا وې: لۀ سترګو بلا لا جوړؤم

لکه بُلبُل چې رَابلی پسرلی
اوس به یو هغه رنګ نوا جوړؤم

۳۰_۱۰_۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه زما چې ګرېوان څیرې ګُلان
لهٔ خپل شیؤنه به ثنا جوړؤم

سپرلیه! بوټي پهٔ ګودر ؤنوله
خپلو دردونو له دوا جوړؤم

شاړو حجرو کښې مې ډیوې بلؤم
هغه جرګې به درته بیا جوړؤم

توبښه دَ زیست مې خط او خال دَ اشنا
تورو تیارو نه هُم رڼا جوړؤم

ستا دَ وعدې غُندې یَو رِزم هَمه
پهٔ هر بېګا کښې خپل سبا جوړؤم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ بلبل لره غُنچه ده
نو پتنګ لره ډیوه ده
خوا دې ما باندې پوره ده
دَ پټکی بنکلا شمله ده
تۀ غَره اوسه پۀ حُسن
زما هُم دَ عشق نشه ده
دې خیالونو لېونو له
ستا پۀ مخ جوړه غرمه ده
تر دا هسې بانۀ غشو
څۀ نَشه، څۀ حوصله ده!

خط او خال، لب او رخسار ته
مشاطه پۀ تماشه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمه شپه کښې هُم شوګیر یم
ستا دَ زلفو چې اسیر یم
دَ وَفا دستار تړلے
دَ پښتو دَ ملک سفیر یم
سمه، غرهٔ به سره یو کړم
دَ وحدت هغه بهیر یم
کله پرېوځم، کله پاسم
پهٔ تخریب او پهٔ تعمیر یم
دلداری؛ خودداری یوړه
تا ته څهٔ ښکارم، حقیر یم
زهٔ پهٔ غُښته لهٔ چا کله!
شته من یاره! څو فقیر یم
لوګے ستا لهٔ یو نظره
پهٔ حلقه کښې بې نظیر یم
ستا رضا شی راحاصله
پهٔ تلاش او پهٔ تدبیر یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ تلاش او پهٔ تدبیر یم
خو کړلے خپل تقدیر یم
خو مقصوده ستا رضا ده
پهٔ حرم او نهٔ پهٔ دیر یم
چې کا یون دَ یار پهٔ لوری
دَ هغهٔ قافلې میر یم
هم هغه راپورې خاندی
چې ئې زهٔ دَ غم پهٔ ویر یم
"یو بلبل دَ ګُل ثنا کړه"
ستا دَ هغه خوٚب تعبیر یم

غُټې غُټې زلفې وینم
شیرین یاره! ډېر زهیر یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ اباسین کوی اوس ما ته پهٔ چپو خبرې
نهٔ پېغلې جُونه پهٔ ګودر کښې پهٔ منګو خبرې
هلته پهٔ بڼ کښې اواز نهٔ کا کوم طوطی آو مېنا
دلته مَېره کښې خُاره نهٔ کا پهٔ شپېلو خبرې
دَ حُجرې ګټ کښې نهٔ منګے کا، نهٔ رباب دَ مُطرب
دَ زير او بم سره ځلمو ته دَ زړګو خبرې
هغه دَ ژوند دَ رنګينيَو کاروان چرته تللے
پهٔ خُلهٔ چې نهٔ راولی بَېرته دَ راتلو خبرې
هغه نکهت، هغه ګُلشن او بېدل دَ بورا
یاد دَ ماضی شو دې وطن کښې دَ سپرلو خبرې
ګُل دَ لاله هُم چرته تورو خاورو ؤخوړلو
نهٔ دَ غانټول ؤکړې بيا پُولو آو پتهو خبرې
دَ چاپېريال وجود لمبه دے ترې لوخړې خېژی
دَ ژوند سلګۍ دی؛ ما ته کاندی پهٔ زېږګو خبرې

دَ اوږو سترګو نظر وړے مې بنائست دَ حيات
کړه شيرين ياره! اوس دَ زړونو سپېلنو خبرې

۲_۱۱_۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاره دَ تا دَ خط او خال خبره
زما دَ حال او استقبال خبره
زما دَ عشق، ستا دَ جمال خبره
نۀ ده څۀ دا دَ اشتعال خبره
ګڼې نو تا خبره وڑانه کړله
جوړ وو محفل، وه دَ مثال خبره
یار دَ قدرونو پۀ رموز کښې وايې
نۀ کا پۀ بام اَو پۀ دېوال خبره
ستا پۀ محفل کښې څومره ډېره ؤشوه
یو دَ شړې او بل دَ شال خبره
خبره یو وه؛ خو څوک پوهه نۀ وُو
ما کړه دَ دامِ اَو دي دَ تال خبره

حُسن وحدت دے؛ بیا مي ؤچېړله
دَ سمې، غرۀ دَ اِشتمال خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوه بُلبله دَ رنګينو پَسرلو خبرې
هغه دَ عېش او دَ عشرت دَ ورځو شپو خبرې
غوارم ګُلشن کښې دَ نکهت دَ ګډېدو خبرې
بيا دَ بورا دَ بنېدو اَو دَ غُنچو خبرې
مُطربه راشه! دَ حجرې په ګُټ کښې بيا وُچېړه
په زير و بم کښې دَ تارونو، په نغمو خبرې
ساقي چې راشي نو واعظ دې هُم دفتر وُسپړي
دَ هر يو ګُوټ سره به اَورم دَ توبو خبرې
زړۀ مې ډېر وُغواړي لۀ ځانه دَ وَتو خبرې
بس خو؛ رامخکښې شي دَ شرم اَو پښتو خبرې
ښايي سرې وُکړي تر منځه دَ سړو خبرې
ملک دَ پښتو دے دلته وُشي په جرګو خبرې
راوي! ښائېست ته دَ حيات وُکړه په زوره زوره
دَ مئينانو، لېوانيانو دَ جذبو خبرې

چې په حُرمت دَ ګُلستان ئې سر و مال کړۀ فدا
ستا شيرين يار به تا ته وُکا دَ هغو خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ چې پۀ زړونو حکومت کوَمه
بیا څۀ خطر دَ بغاوت کوَمه
لُسته دَ مخ دَ عبارت کوَمه
دَ بغاوت چې حمایت کوَمه
دا دَ خوبانو محبت کوَمه
کۀ دَ بُتانو عبادت کوَمه
ملګرې ځان سره څو اوښکې لرم
دَ تپې زړۀ چې عیادت کوَمه
ستا دَ یارۍ خوارۀ هُم هسې عدم
پۀ درمسال کښې مُشقت کوَمه
غَرض دَ تا سره دَ زیستِ دے اشنا!
څۀ؟ محبت کۀ قومیت کوَمه

اُودۀ بانۀ ئې څۀ راؤلړزوَل
لۀ خوَرو زلفو شکایت کوَمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ کوم سبا اَو پهٔ بېگا کښېږي اُوېره شوی نهٔ یُو
ستا دَ وعدې غُندې خو ښه ده! کچه شوی نهٔ یُو
ستا دِ هر یاد سره تر عُمره مو یاری پاللې
خپله تپه کښېږي لکه ستا بې پته شوی نهٔ یُو
ستا دَ نظر دَ پلوشو لهٔ متازَیه توبه!
ښه ده ذره غُندې چې مونږ بې ډکه شوی نهٔ یُو
ساقی ګُل فامه! بېرته راشه اَو کاسې ډکې کړه
تا ته دا چا وې؟ چې توبو نه توبه شوی نهٔ یُو
ستا دَ څو اوښکو پهٔ ترمکه به راژوندی شو اشنا!
څو پهٔ باران دَ بهارونو تازه شوی نهٔ یُو
هسې به تل دَ وخت دَ ناوې لهٔ مخ اَخلُو پلَو
څو دَ اجل دَ درندې چې لُقمه شوی نهٔ یُو
دا خو اتل ده چې به مُومُو لهٔ جانانه وصال
مونږ لهٔ پخوا چرې دَ ځان پهٔ زېرمه شوی نهٔ یُو

شیرینه یاره! دَ مرام لَیلا به نهٔ شی پخلا
څو پهٔ انګړ کښېږي دَ حجرې چې جرګه شوی نهٔ یُو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړه سا به مې په سا شي
کۀ اشنا مې خوا په خوا شي
چې دې لاندې تر قدم شو
په جهان به سربالا شي
خلک جوړ به لرغوني وي
کۀ په دم او په دوا شي
زۀ او تۀ سره فريق يُو
فَيصله به مو په چا شي
ساقي! وار کښې خطا نۀ شې
چې مستان دې وارخطا شي
لۀ دې هسې لا چارَيَه
هره چاره ناويسا شي
دَ سفر توښنه هُم دا ده
چې دوه سترګې دې بينا شي
زما سترګو وَته کسه
چې خپل عکس درته ګويا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ هوا دَ وخت تکیه ده
نهٔ پهٔ ما شی، نهٔ پهٔ تا شی
اَزاله مې دَ زړهٔ وکړه
چې خبره خو صفا شی
لېونے دَ مینې څهٔ زده
چې روا، کهٔ ناروا شی
تاوده وینه دَ ځوانۍ وی
ابتدا کښې، انتها شی
تورې زُلفې ګورې ستایَم
رفعه، دفعه به بلا شی

شیرین یاره! وار دَ چا دے؟
دَ باڼهٔ غشی ادا شی

۳_۱۱_۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضا پښنه دَ تقدير شي
نۀ ترکيب اَو نۀ تدبير شي
دَ روزګار لۀ دامه ووځي
دَ زلفانو چې اسير شي
پۀ روزګار کښې ږی مَترُوکه
پۀ ياری کښې ناګزير شي
لۀ فلکه خپلې بَرخې
څوک امير اَو څوک فقير شي
دَ وختونو لۀ پېرزويه
څوک اتڼ اَو څوک پۀ وير شي
چې دَ خيال څانګونه مات وی
نو به څنګه هواګير شي
دَ بانۀ پۀ تېرۀ څُوکو
دَ منښن ِ دَ سينې خير شي

مړاوې سترګې دَ يار وينی
شيرين يار څکه دلګير شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا پهٔ چم کښې بې آرزی ده
زمونږ ډېره بې وسی ده
دَ اُمَېد دَ هر يو ګُل مې
پهٔ درون سينه زخمی ده
پهٔ مثال دَ اورکی مو
پهٔ خپل سر راهنمائی ده
ستا دَ سترګو و شوخی ته
څهٔ مستی، څهٔ بې خودی ده
څهٔ بې سره زمانې ته
خودسری او سرلوړی ده
چې دې نهٔ ؤرسی فهم
"چُپه خله کښې بهتری ده"

دا بيان مې وزن دار دے
دَ مفهوم ئې روانی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرته دے همرا زما لۀ خوا تلے
څم پسې کۀ هر لورې اشنا تلے
ښکلے مې دَ څنګ نه پۀ خندا تلے
هاغه دے- - -! بیا زړۀ جوړې زما تلے

خلې ته دَ اَجل ئې کله زۀ پرېږدم
زړۀ لکه ماشوم رانه پۀ غلا تلے
ما وې عقل، فکر مې تا وُړے دے
لا صبر، سکون پرې نه سبوا تلے

هرې حادثې ته چې تَتر نېوې
هغه هُم دَ ښکلو پۀ ادا تلے
څوک چې پۀ نوا دَ وخت شِنوا نۀ شي
ستا لۀ دره هُم نو بې نوا تلے

شپو نه مې دَ ژوند؛ خوبونه تلي دي
داسې ئې دَ زلفو پۀ سودا تلے

بَلې پۀ مزار ئې دَ یاد شمعې بېدم
ما نه مې ارمان ډېر پۀ ژړا تلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ کهٔ پهٔ لر او کهٔ پهٔ بَر اوسېږې
یاره! زما دَ زړهٔ پهٔ سر اوسېږې
تهٔ پهٔ بولان کهٔ پهٔ خیبر اوسېږې
لهٔ ما به ولې ناخبر اوسېږې
دَ تور کاکل حقدار به ؤنهٔ ګرځې
څو ئې لَمن کښې دَ تور غر اوسېږې
وایه! دَ زلفو او دَ مخ دې قسم!
پهٔ روز و شب کهٔ مې خبر اوسېږې
دَ اننګو تر څوکو راغله سُرخي
وائې: لهٔ ما به پهٔ خطر اوسېږې

دَ هوسۍ سترګو لهٔ زمرې نظره
شیرینه یاره! ډېر اوتر اوسېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ تر خنګه مې شباب دے
خو پۀ ترخ کښې مې کتاب دے
دا انجام ستا دَ عتاب دے
چې اغاز زما دَ تاب دے
سيند دَ اوښکو کښې مې ؤموند
يو ګوهر، مګر ناياب دے
دغه ستا دَ سترګو اوښکې
دا هُم سيند، خو بې پاياب دے
ستا تر هسې رڼې اوښکې
کۀ ګوهر دے، خو کرياب دے
ستا دَ زلفو پۀ سودا کښې
وُرک دَ شپو نه زما خواب دے
ستا تر غږ سارينده هېڅه
هُم دا هسې چنګ، رباب دے

شيرين يار دې پرې هُم زْده کړه
څۀ حساب دے، څۀ کتاب دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو کۀ يو مو پۀ لار زغَل دے
خو نظر مو سره بېل دے
يَو يَو خاپ دَ تېر کاروان وو
ما پرې اېښے باندې پَل دے
دَ ښکلا "مردِ مېدان" دے
هر يو خيال زما اَتَل دے
زړۀ کۀ لوی لۀ يوې خوْلې کړې
ښۀ دَ زړۀ پوُره بَدل دے
دَ کاکل ځړې به سر کا
زما فکر کله شل دے؟
چې زۀ ستا شم، تۀ زما شې!
دَ هر سوال هُم دا يو حَل دے

شيرين يار ته به پخلا شې
دغه امر اوس اټل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمارت دَ مال او سر پکښې معدوم دے
مونږ گټلے پۀ دا ښار کښې بلا نوم دے
دَ ښائست ئې پۀ حلقه کښې څومره دُهوم دے
بیا پۀ حال دَ لېونیانو څوک معلوم دے
ما خو کړې لۀ آزله ستا ثنا ده
ما به کله پۀ تا یاد کا؛ طالع شُوم دے
کا لۀ ښکلو دَ وفا آو دیدن طمع
کتهوری لۀ زانو غواړی؛ زړۀ ماشوم دے
سپېلنې غُندې لوګے ئې لۀ وعدو شم
ډېر دَ پیو ئې رخسار دی، پۀ خلۀ اُوم دے
هر سحر مې ستا پۀ مخ باندې محیط دے
هر ماښام مې ستا کاکل څخه موسُوم دے

پۀ تولې کښې دَ همزولو داسې وایی
شیرین یار مې لېونے دے، ډېر معصوم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ نيؤلے ستا دَ مينې پۀ قصور يم
سر دَ دار باندې ختلے يم منصور يم
دَ جنت حُورې دې واړه لاس پۀ نام کا
سربازانو ته حلقه کښې پۀ ظهور يم
داسې مۀ وايه! چې تۀ به لۀ ما هېر شې
کۀ لۀ تا پۀ بل ديار يم خښنى دُور يم
هلته سُوے دې حُرمت دے تندرونو
دلته زۀ هسې بې آبه يم، بې نُور يم
بنۀ سامان دې دَ "سر خنې" هر څو ما کړۀ
ولې بيا دې هُم حلقه کښې نامنظور يم
شامدام لۀ جفاکارو پامالېږى
بنۀ آګاه پۀ سر او مخ دې دَ دستور يم

کۀ دَ يار پۀ نوم مې وژنى؛ تور ئې اخلم
لۀ دې اخوا شيرين ياره! "بې قصور" يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلے يار په مئين زړۀ مې خبر کوم دے
دَ شته مَنو په خوارانو نظر کوم دے
چې شوخي دَ پَيمانو ده پسې وُرکه
دَ شفق دَ سُرخۍ ډک مازيګر کوم دے
دواړه لاسه مې ورکړې دی ګرېوان کښې
اوس دَ ګُل دَ خنداګانو سحر کوم دے
هر پرواز دَ بلندۍ ته مې زړۀ کېږی
خو دا توان مې په غوڅ شوی وزر کوم دے
ډېر غمونو سر تر پايه کوره کړے
زما نۀ زده چې لَر چرته دے بَر کوم دے
زړۀ به څۀ دَ منصفانو په در يوسم
دلته تول نو دَ انصاف برابر کوم دے

شيرين ياره! دَ دې وخت لَيلا هُم ستا ده
خو زور متهو کښې اَو ګُتو کښې زَر؛ کوم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارمانونه سبزه زار دے
اُمېدونه نوبهار دے
دَ وخت زُول په کومه راورم
خَير دے! دې خوا مې هُم کار دے
رسۍ زلفو ئې کار ؤکړهٔ
اوس دَ غشو بانو وار دے
ستا کاکل پهٔ سر ختلے
زما هُم پهٔ سر دستار دے
لکه زلفې دې اُوږدې دی
زما هومره انتظار دے
لکه زلفې دې خوَرې دی
دَ خيال هسې انتشار دے
وايه! اوس نو يارى څهٔ ده؟
يو غَرض، يو کاروبار دے

شيرين ياره! يار بخيل دے
يا نصيب زمونږه خوار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو لهٔ زلفو دې شبخون دے
بل لهٔ سترګو دې ساتون دے
زور پهٔ لاس او دنیادار شي
مُسَلم هغه مجنون دے
جرس خپله سینه سرۀ کړه
پاسه پورته شه! پاڅون دے
ستا پهٔ ذکر، ستا پهٔ فکر
سر مې اېښے پهٔ زنګون دے
ستا پهٔ سترګو کښې ځلېږی
زما هسې ځیګرخون دے
پهٔ مخ اوښکې بوړکی دی
هُم تناکې مې لړمون دے
ستا پهٔ در چې تمامېږی
پهٔ دا لارو زمونږ یُون دے

پهٔ پُښتنه به مې راشي
شیرین یار خو مې پښتون دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې نه چې بې تالاش او بې تدبير يم
خو بس دا چې زۀ کړلے خپل تقدير يم
هومره مخ به دَ هوا ګوزار ته نيسم
څو مې دم دَ وزر شته دے هواګير يم
دَ سينې کچکول مې ډک لۀ ملغلرو
زۀ پۀ غُبنته لۀ چا نۀ يم څو فقير يم
خدایْ راکړے ډېر دولت دَ قناعت دے
زۀ پۀ دا لۀ بادشاهانو زيات امير يم
لکه يار چې مې دَ زړۀ دَ رنځ دوا ده
داسې زۀ ئې هُم "سر ښې" له اکسير يم
پۀ تولی دَ سُهېليو کښې "خلۀ راکړې"
پۀ حلقه کښې دَ همځولو بې نظير يم
بې لۀ ما به وی دَ ښکلو خوا نيمګړې
دَ شملې غُندې پتکی له ناګزير يم

ستا دَ زلفو ياد مې نۀ پرېږدی وَ خوب ته
لا تر هاغه به شوګير يم څو اسير يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک به سپوږمۍ و ته هُم ئي قريب نۀ کا
خداى دې ځوک په دې وطن کښې غريب نۀ کا

تا په تبغ دَ نظر هغه ادا کړے
چې دارُو مې په يو ښار کښې طبيب نۀ کا

چې دې "وار" راغلے نۀ وی؛ "وار ئې تېر شی"
ځوک دې طمع لۀ يو داسې نصيب نۀ کا

زۀ او يار دومره قريب يُو چې يَو تن شُو
په دا څۀ شی؛ اعتراف کۀ رقيب نۀ کا

خَمې وروځې، لک بانړه آو تاوې زلفې
هسې مړ يم؛ يار دې دومره ترکيب نۀ کا

شيرين يار دې ډېر آداب دَ ادب پالی
اعتراض ورباندې څکه اديب نۀ کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چخنې شوې چې دَ پښتو لاندې دستور دې
هر سړې دَ قلمرو ځنې مفرور دې
مُنصفان کۀ هر څۀ وکا؛ لاس پۀ خلۀ کا
دَ انصاف غُښتنه هُم دلته قصور دې
دَ دې دهر محرومان دي څو به شمارم
کوم کسبي دې، کۀ دهقان اَو کۀ مزدور دې
دَ ظالم ذَ عمر هم درازي غواړي
هر مظلوم زما دَ ښار څومره مجبور دې
څۀ به وايم کۀ پۀ دم اَو دوا روغ شي؟
لۀ دې رنځه چې جوړ شوې اوس ناسور دې
لاعلاجه چې هرکله درد دَ غابښ شي
اخستلې هر طبيب پسې آمبور دې

پۀ مَيدان کښې دَ عمل اوسي بې تُورې
شيرين ياره! هر سړې پۀ خلۀ باتُور دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بُلبل خوږه نوا يم
کهٔ مې آورې ستا ثنا يم
سر دَ دار باندې دې ستايم
غُنچې ژبې نه ګويا يم
لهٔ پېرزو دې نااشنا يم
ستا يو هغه رنګ اشنا يم
دَ طاقت پهٔ زېرمه نهٔ يم
چې دَ زړونو شهنشا يم
دَ زمان پهٔ ګُتو پوهه
اګاهو لهٔ وخت پَيدا يم
هر سبا، بېګا مې تهٔ ئې
تمام عمر لره ستا يم
دا دې چاره او پېشه ده
کهٔ نېؤلے دې هُم دا يم

شيرين ياره! سوال خو دا دے؟
چې پهٔ څهٔ خطا سزا يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنګ سَره سَره غرمه
چرته ده تاوده غرمه
زهٔ یو لېونے مئېن
خوښ یمه پهٔ سره غرمه
ستا دَ بانهٔ سېورې ته
بیا کوی دَمه غرمه
ستا پهٔ تیارهٔ زلفو کښې
ما ته لګه شپه غرمه
ځار دَ مرهٔ کاتهٔ نه دې
څومره شوه اُوده غرمه
مخ دې لګه سُور شو چې
بیا خوله خولَه غرمه

ستا لهٔ شیرین یاره زده
ښنګ شو لولپه غرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ پهٔ سترګو دَ شعور هسې بينا يم
اوس پخپله خپل نظر لره رڼا يم

ستا جنون کښې لهٔ مجنون تلے پهٔ هُورته
تهٔ دروغ هرګوره مهٔ ګڼه ربنتيا يم

تهٔ نظر کښې دې لَرې دَ زړهٔ رازونه
زهٔ هم تل دَ خپلو سترګو نه ګويا يم

زهٔ مئين يم اَو روزګار لرم دَ مينې
نور به څهٔ وايم چې هاغه يم اَو دا يم

انتشار منې دَ زړهٔ لا هومره زياتېږی
خورو زلفو ئې زهٔ وړُے پهٔ سودا يم

يار دې خپل مرؤرتوب لهٔ مېَنځه يوسی
شيرين ياره! زهٔ پهٔ خپله خلهٔ پخلا يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



روح مې کومې بلا وړې دے هر چا زړه
په دې ښار کښې هر دانا او نا دانا زړه
مينه هغه رنګ له کار دے؛ خوامخوا زړه
هم بادشاه دَ زمانې او هُم ګدا زړه
پس قدمی له پېش قدمی وی بلا ګرانه
داسې مه ګڼه! چې بېرته تله اوس ما زړه
ته ښېبوه دَ خشم ؤکړې، زهٔ دَ مينې
خپل خپل کار دے؛ دَ تا هاغه، زما دا زړه
لېونې خو په زورنو لا ورانېږی
سر دَ دار باندې مو ترپې هُم نڅا زړه
دا خو ستا غمونو نهٔ يم زهٔ پرېښؤلے
ګڼې ډېره مې خندا او مشغولا زړه

په يو تېکی کښې دوه تورې نهٔ ځايېږی
شيرين ياره! چې انا زړه؛ څهٔ اشنا زړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمعیت مې خور کاکل د لېلا یوسي
لکه خوب په شپه کښې؛ توره بلا یوسي
زړهٔ په دواړه لاسه نېؤم؛ دَم پرې چُف کړم
خدای زده؟ ښکلے ئې په کوم هُنر بیا یوسي
عشقه! ما هُم هسې تېر لهٔ خنډو خار کړه
لامبوزنی مل اُبو کښې پهٔ شنا یوسي
دَ یعقوب غُندې مې زړهٔ وَ ته غم پرېوت
دا یوسف به مې دَ سترګو رڼا یوسي
دا منمه! حې پُرسان له به یار راشي
عزرائیل چې زما روح پهٔ سما یوسي
بیا دَ قبر پهٔ خزو مې اوښکې توی کړه
دَ زړهٔ خیرے به دې ډېره ژړا یوسي
خلقو وې به: اجل مَل ئې دَ نظر دے
ما ګڼله کله؟ سترګې به ما یوسي
عقل خام شی.. ادراک شل او فهم ړوند شی
ځان قضا له ګڼې څوک؟ پهٔ رضا یوسي

شیرین یار! به دې دَ خدای پهٔ در کښې غواړي
تقاضې کهٔ دې هر څو دَ دُنیا یوسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



استقبال ئې لاس پهٔ نام دَ خط رقم ته
خدایْ دې راوَلی دا یار زما حرم ته

نرګس چشمه، لاله رُخه، یاسمین بُویه
پسرلی ئې هُم غوړېږی هر قدم ته

دَ زړهٔ زخم دَ مودو وو؛ جوړ ناسُور شو
اوښکې پاکې کړه! ضرور اوس څهٔ مرهم ته

تل رواني ترې چینې دَ سترګو ډکې
یم حَیران دَ جل وهلې سینې زَیَم ته

هغه سترګې چې دا ستا پهٔ درد لوندې شی
دَ حیات اُبهٔ هُم نهٔ رسی دې نم ته

ډېر یقین راته خپل یار مې زړهٔ نشین کړهٔ
پسې نهٔ ځم ځکه دیر او یا حرم ته

دَ معروض پهٔ پرډو سُر به ئې هر تار شی
غوږ کهٔ ږنبوی مطرب مې زیر او بم ته

شیرین یاره! چې هُم درد آو هُم دوا زْده
دغه هسې ژبه ورکړه خپل قلم ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویښ ادراک لۀ تغافله رابېدار کړم
بینا فِهم خپل مرام وَ ته پۀ لاز کړم

پښتون فکر اواره پۀ خنډ و خار کړم
روڼ نظر رڼا رڼا لکه انوار کړم

دَ بې باکه غَیرتی جنون لۀ زوره
زۀ تېپه دَ خپلواکۍ پۀ سر دَ دار کړم

دَ مانۍ ښبستن شو غل مې دَ ګوډَیکو
ډېر دَ وخت پۀ نوی جبر آه و زار کړم

اوس کۀ ما وَ ته حاصل شی دَ یار وصل
یو ساعت به دَ جنت پۀ عمر شمار کړم

دا چې ګرځمه بې یاره، بې دیاره
شیرین یاره! څۀ پۀ زیست، څۀ پۀ روزګار کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دا یو هسې انتشار ؤژاړم
یا دې دا اُوږد انتظار ؤژاړم
هغه خندا چې دې تار تار ؤژاړم
لکه بلبل په آه و زار ؤژاړم
زهٔ یو بې وسه دَ نړۍ غمګسار
غم مې دَ یار کهٔ دَ دیار ؤژاړم
دَ یار دَ ختهو، لُوټو وران کورکے
دنګه مانۍ څهٔ دَ اغیار ؤژاړم
لکه جرس هُم زړهٔ مې ډېر ؤغواړي
تتر وَهم په لویه لار ؤژاړم
تنکۍ غُوټۍ مې تندرونو یوړې
اوس څهٔ آمد دَ نوبهار ؤژاړم

دَ خپل شهید ارمان په قبر باندې
بلؤم شمعې بې اختیار ؤژاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تغافل دې دومره زيات شو
چې دَ اوښکې هُم زړهٔ مات شو

مونږ هغه ليمهٔ پهٔ لاره
ورک نظر دَ التفات شو

پهٔ جامه دَ پسرلی کښې
خزان شامدام رامات شو

ما هُم خيال دَ غزنوی کړهٔ
ستا وجود چې سومنات شو

پهٔ زخمونو دَ احساس کښې
دَ نَوونو هُم بهتات شو

دَ ښکلا صاحب نصابه
بس کهٔ ياد دې لږ زکات شو

دَ زړهٔ زنځے مې لوګے کړهٔ
دَ بارخو نظر دې مات شو

هسې رنګ شيرين بيان دے
چا ته قند او چا ته شات شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ماضي باندې خپل حال ږدي
بنهٔ بُنیاد دَ استقبال ږدي

پهٔ سپین مخ چې سیاه خال ږدي
خدایٔ زده بیا ئې پهٔ څهٔ خیال ږدي

بدبختي یو داسې پېښنه
درته کښېږه هر کمال ږدي

نهٔ جلوه دَ بام دَ سر نه
نهٔ هُم زنه پهٔ دېوال ږدي

نهٔ ښکاره دَ تمبو وُت نه
نهٔ لهٔ سره ښکته شال ږدي

شیرین یار! لهٔ هر څهٔ تېر دے
هر یو شرط کهٔ دَ وصال ږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښهٔ يار دے کنار هسې
زما تللے قرار هسې

بيا دَ زړهٔ اضطرار هسې
سيند دَ سترګو چيکار هسې

لکه اوس خوار و زار هسې
کله نهٔ وُم پهٔ دار هسې

کله دام او کله تال وی
لا دَ زلفو ئې تار هسې

لهٔ ۰ دې ښکلې همکاريه
دا اغيار مې شی يار هسې

وخته! زُول کهٔ دې بل راشی
زما هر خوا ته کار هسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړهٔ کاتهٔ نه دي لوګے شم
مونږه واړه بیمار هسي

ساقی ځار دي لهٔ بادي شم
خو وار تېر شی پهٔ وار هسي

ستا دَ مخ وَ آبادی ته
دا ګُلشن او بهار هسي

ستا دَ سترګو پَېماني ته
دا مقدار او معیار هسي

پهٔ ملاتړ ئي ډاډه وُسه
شیرین یار دي پکار هسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ دې خلهٔ زما پهٔ خلهٔ شي
نهٔ به "تهٔ" او نهٔ به "زهٔ" شي
پهٔ ادغام چې دې بانهٔ شي
څهٔ خاتهٔ، څهٔ پرېواتهٔ شي
زما زړهٔ اُبهٔ اُبهٔ شي
دَ تا کسی خو مارهٔ شي
دَ نُمرمخو تېکاوْ چرته
دَ راتلهٔ سره ئې تلهٔ شي
لب ئې باندې پهٔ صُهبا دی
لا چې مل ئې سرهٔ لېمهٔ شي
پهٔ تکور دَ تود نظر مې
دَ احساس دردونه ښهٔ شي

شیرین یاره! ستړے خیال مې
پهٔ چاپه غنو اودهٔ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا نیولے خپل ډکر دے
ما ساتلے خپل سنګر دے

ښۀ پرچار دَ سر لوړی دي
خو کۀ پاتې دَ چا سر دے

ستا هر یاد زما سره دے
ستا هر غم زما پۀ سر دے

غشی باندې پۀ لیندو کړه
ما نیولے خپل تتر دے

تۀ نقطه یو دَ پښتو شه
ژوند دې ګوره! ستا چکر دے

دا غزل مفهوم درآزه
پۀ خپل بحر مختصر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



للمه، دشته، سم او غر پیکه پیکه دے
نن دَ کلي هر منظر پیکه پیکه دے
یا زمونږه خپل نظر پیکه پیکه دے
یا دَ ورځې مازیګر پیکه پیکه دے
خدایه! ورک کړې لهٔ اسمانه تندرونه
خوف نه سپورے مو دَ سر پیکه پیکه دے
ما وې: راغے ترې قاصد؛ خو څهٔ به وایی
دهٔ وې: چُپ شه! هر خبر پیکه پیکه دے
بیا وَهلے پهٔ ګُلشن ئې چا شبخون دے
دَ بلبل دَ شپو سحر پیکه پیکه دے
نهٔ ساقي شته، نهٔ سپوږمۍ دَ ښوارلسمې
چې رونق دَ بام او در پیکه پیکه دے
نهٔ ئې جالې پهٔ څړی کښې دَ بازونو
نهٔ ئې بار، سایه؛ شجر پیکه پیکه دے

غُټې نهٔ سپړی ګریوان چې شیرین یاره!
پهٔ درون ئې زړهٔ، ځیګر پیکه پیکه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر کۀ منزل ته مو مزل ؤنۀ کړۀ
ښه ده دَ بل پۀ خپو مو زغل ؤنۀ کړۀ

پۀ خندې و خار آو سرۀ اورونو لاړم
تا وې: دَ تګ دې لا تکل ؤنۀ کړۀ

زړۀ مې ډاډه کړۀ پۀ ساد سیوری دَ ځان
بل مې پۀ لاره باندې مَل ؤنۀ کړۀ

څو چې پرون نه مې پُښتلی نۀ دی
ما دَ سبا هومره اټکل ؤنۀ کړۀ

هُم شؤمه وړک هُم دې پۀ سترګو کښې یم
دا دې یو هسې رنګ له چَل ؤنۀ کړۀ؟

څو غزالې سترګې راوانۀ ړوې
مونږه سامان دَ خپل غزل ؤنۀ کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین جبین وَ ته ئې رام "ماهِ تمام" بیا
سرو لبانو ته صُهبا ئې په سلام بیا
څَنګ ته راغے سرهٔ لبمهٔ هسې ګُلفام بیا
دَ ساقی لهٔ ګُتو پربوتو ډک جام بیا
سرهٔ او شنهٔ دَ مخ ئې راؤستو هنګام بیا
اولاړ چُپه خلهٔ سپرلے پهٔ احترام بیا
وخت او بخت به پهٔ ما وُکړی ډېر انعام بیا
کهٔ مې نن دَ خپل پرون شو هم کلام بیا
ما وې: شپې له به تسخیر دَ زلفو کاندم
دې وې: شل دې شو ادراک اَو فکر خام بیا
اوږدې زلفې، نیغ بانهٔ اَو کږې وروځې
زما مرګ له ئې ښهٔ کړے اهتمام بیا
چې لهٔ آله، سر او ماله پسې تېر شی
هغه څهٔ کوی اشنا پهٔ ننګ او نام بیا

شیرین یار چې دې بیان هسې دراز کړهٔ
دَ اوږدو زلفو مېرمن کوی قیام بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندې و خار دے، کند کپر دے
دَ عشق لار ده، سخت سفر دے
زیست روزګار مې کور و کر دے
پنډې دَ غم دي راپۀ سر دے
روز و شب مې ناخبر دے
څۀ شوقدر څۀ اختر دے
تورې سترګې، ګُورې زلفې
څۀ جادو دے څۀ منتر دے
پۀ بېګا دَ ژوند به راشي
دغه لوظ ئې مُعتبر دے
پۀ بارخو ئې خُوَلې راغلې
چې حِدت مې دَ نظر دے
ما ئې سبورے هُم پۀ تا کړۀ
کم چې سور مې دَ څادر دے

شیرین یاره! زړۀ دې ژاړه
څو دا هسې رنګ دلبر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا پهٔ عشق کښې چې بدنام دے
هر هغهٔ ته مې سلام دے

ستا زيرک نظر ته خام دے
کۀ مې فکر دے، کۀ پام دے

هر يو رند چې ورته رام دے
دَ ساقي پهٔ لاس کښې جام دے

ساقي جام لۀ لاسه ورکړۀ
دَ سرو سترګو دې هنګام دے

ستا دَ سترګو آئينه کښې
ما ليدلے خپل انجام دے

دَ خورو زلفو سودا کښې
خوب ارام پهٔ ما حرام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې لهٔ مینې بهره مند شی
غم ئې څهٔ دَ ننګ او نام دے

مخ ئې دومره ډېر ښته من شو
چې سپرلے ئې هُم غلام دے

زلفې سپېره، لېمهٔ ډک کړه!
دَ سیند غاړه ده، مابښام دے

زهٔ ئې زيات لهٔ دُعا آخلم
ستا پهٔ لبو کهٔ دُشنام دے

مړی څهٔ کا بیا پهٔ اوښکو
یاره راشه! اوس ایام دے

شیرین یار دې یو مجنون دے
کهٔ شهره دے، کهٔ ګُمنام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ خپل ځان وَ ته پهٔ ښنګ یم
نهٔ بل چا وَ ته پهٔ رنګ یم
یو مئېن پهٔ نام او ننګ یم
بل دې در کښې ناست ملنګ یم
زهٔ خوشحال یم دَ خپل دؤر
زور ته مخ دَ یو اورنګ یم
لېونتوب مې بدرګه دے
نور بې تېغه، بې تفنګ یم
کله عقل ته پهٔ خَشم
کله زړهٔ سره پهٔ جنګ یم
تهٔ کهٔ ؤسوې هسې شمع
زهٔ ایرې لکه پتنګ یم
پهٔ خپل ځان هزار داستانه
سارینده اَو نهٔ پهٔ چنګ یم

شیرین یاره! جوړ پاڅُون دے
دَ یار ښنګ ته پهٔ غُرځنګ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو چې په شپه دې اوربل خور نه شي
هومره به زړهٔ زما په کور نه شي
څو تود نظر دې په دا لور نه شي
درد دَ احساس به مې ټکور نه شي
هومره به مړ دَ اوربل اور نه شي
څو دې سپين مخ په لوګو تور نه شي
بيا لهٔ زلفانو څړی مهٔ جوړوه
دَ پښتنو تر بله کور نه شي
دَ مخ په خال دې زلفې ؤغوړوه
پورې په سپينه لمن تور نه شي
ما به هُم ما هسې په زړهٔ کښې لرې
کلی دَ چا سره په زور نه شي

څو شيرين ياره! ځيګرخُون مې لرم
رخسار دَ ګُل به رانه سپور نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بنائستونو دَ منظر خبرې
غوارم دَ یار دَ بام او در خبرې
دَ مخ او سترګو دَ اثر خبرې
کوه سحر او مازیګر خبرې

ساقي، باده او دَ سیند غاړه، ماښام
واعظه! وکړه مختصر خبرې
زما حسین او دلنشین دلبره!
نۀ کا خوند داسې پۀ بهر خبرې

دَ غمازانو، بدخواهانو پۀ خلۀ
مدام زما او ستا پۀ سر خبرې
څو بل مشال دَ شعور نۀ وی پۀ لاس
بیا پۀ دا شپه؛ څنګ دَ سفر خبرې؟

دا شیرین یار وو چې در یادې ئې کړې
ستا دَ کالۀ او دَ تبر خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا کهٔ وړک دې خوږ نظر کړهٔ
ما هُم پټ دَ زړهٔ پرهر کړهٔ
تا نکهتِ دَ زلفو ورکړهٔ
سحر ناز دَ باد پهٔ سر کړهٔ
څهٔ بانهٔ دې لر او بر کړهٔ
پهٔ زلزل دې سم او غر کړهٔ
دومره "غل دَ غرض" څوک دے؟
چې ئې لُوټ دَ شپې سحر کړهٔ
خيال مې هيڅ نهٔ دے بدپامه
څو لهٔ پامه دې بهر کړهٔ
سپينې خلې نه دې قُربان! خو
ناخبر دې هُم خبر کړهٔ

شيرين يار لهٔ خدايه سوال کا
کهٔ ستا لوظ ئې مُعتبر کړهٔ

۲۶_۱۱_۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يو خيال چې مې حَسين دے
لاله فام مې زړۀ نشين دے
نرګس چشمه، ياسمين بُويه
ملک خُويه، ماه جبين دے
غاړه لکه، سر فلکه
وياړ دَ واړه سرزمين دے
يو ئې وَصل بل ئې مينه
کۀ روزګار دے کۀ مو دين دے
هر يو غم ئې نازپرور دے
هر يو ياد ئې ګُل ورين دے
هر مئين دي بايَد زړه وى
څۀ ئې قدر، څۀ توهين دے
بام او در دَ يار دَ کلي
دَ رازونو مو آمين دے

شيرين يار داسې بيان کړۀ
چې هُم قند دے، هُم کبين دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شوخو سترګو مست نظر خوربړی
څکه سُرخی په مازیګر خوربړی

ساقي راغلے، هُم سپوږمی ده تمام
رونق زمونږ په بام او در خوربړی

یو چې خواني؛ بله باده په ګردش
واعظه! خود به دې دفتر خوربړی

غُته جبین خو دې راوسپړه لږ
ګریوان مې خیرې دے سحر خوربړی

همه رنګونه نستا د مخ د جمال
زمونږ د ګلی په منظر خوربړی

کله به وی: چې انګازې د وصال
کوبته، کابل آو په خَیبر خوربړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې راپېښه جُدائي ده
زما تللې بینائي ده
له عالمه بېګانه شوم
ستا یو هسې اشنائي ده
ستا په کلي ستا په چم کښې
ځان ځاني ده، تنهائي ده
ستا دَ حُسن اجزا څښنې
خو کاکل ئې اکائي ده
ستا له ګُورو، خُورو زلفو
توره شپه هُم سودائي ده
ستا دَ زلفو له زنځیره
ناممکنه رهائي ده
"چا له زلفو برے ؤموند"!
دا خبره هوائي ده

مینه څهٔ ده شیرین یاره!
پهٔ عالم کښې رسوائي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ اهونو کۀ طوفان دے
نو دَ اوښکو هُم باران دے
پۀ شبخون دَ شهابونو
لمبه شوے مې بُستان دے
یا نالې دی دَ بُلبُلو
یا افغان سر پۀ فغان دے
"روز و شب" مې مخ آو زلفې
څۀ زمان دے څۀ مکان دے
بیا دَ خیال پۀ ائینه کښې
ستا تصویر تا ته حېران دے
کۀ دې سُود چرې مقصود وی
واوْره! مینه کار دَ زیْان دے
وخت ده چا ته پښنه نېؤلې
ځی پۀ مخه تل روان دے

توره شپه به سپین سحر شی
دغه چغه مې اذان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنهائی ده، ځان ځانی ده
ښومره ډېره ویرانی ده

دَ وطن هره کوڅه کښې
څۀ دَ وینې ارزانی ده

دَ اقدارو قدر نیشته
چې دَ زَر آو زور خانی ده

نۀ دلیل، نۀ حواله شته
زورګیری ده، من مانی ده

دَ هر مخ پۀ ائینه کښې
نور څۀ نیشته حَېرانی ده

یو دُنیا دَ مئېن زړۀ کښې
شیرین یاره! وَدانی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرۍ شونډې کۀ دې پاڼې دَ ګُلاب دی
خط دَ مخ دې لکه توری دَ کتاب دی

ستا دَ سترګو دَ صدف تر رڼې اوښکې
دا ګوهر پۀ تَل دَ آب همه بې آب دی

هَسکې غاړې ته دې هېڅه صُراحی ده
سُتر قامت وَ ته دې سروې څۀ حساب دی

پۀ ګُفتار کښې نغمه زاره، وزن داره
بلبلان دې هر یو غږ لره بې تاب دی

خَمې وږوځې، لک بانۀ دې؛ لیندې، غشی
چې سینې دَ مئینانو پۀ خُواب دی

بارانونه پرې دَ اوښکو بلاووری
ارمانونه دَ زړۀ سیمه کښې شاداب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَست خراب دي چې دَ سترګو په صهبا دے
هغه کله په صواب اَو په خطا دے
تورې زلفې دې حاوی په ګُوره شپه دی
سپين جبين دې مُقدم په رڼ سبا دے
هغه سترګې چې تر زلفو نيم کَښو شوې
مازيګر مې اوس نيمګړے، نيمه خوا دے
چې مې ووژني اَو غبرګه پس ته راکا
زما برخه چې قاتل مې مسيحا دے
دَ يار ياد چې دَ مشال هسې بلېږی
ډېره ښه ده چې همرا مې رهنما دے
لاعلاجه رنځ دَ مينې کۀ بالۀ شی
مګر دا چې يار هُم درد دے، هُم دوا دے
دَ يو مخ دَ پاره سل مخونه کېږی
ستا دَ کلی سپي، سرے زما اشنا دے

دَ زړۀ زخم ئې خيرلو ته ځان جوړ کړۀ
شيرين يار وَ ته اشنا ئې په خندا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ زلفو پهٔ سودا مې ژوند حساب دے
ستا دَ مخ پهٔ عبارت مې جوړ نصاب دے

ستا دَ زنې تکی خال وته پسخېږی
څو نیلم کهٔ جوهری څخه نایاب دے

تر سرو شونډو، سرهٔ رخسارو دې شرمېږی
لاله گُل دے، کهٔ غانټول او کهٔ گُلاب دے

لکه سترگې دې پهٔ خون کښې مړنې دی
دغه هسې کوم ښکاری او کوم قصاب دے

دَ بانړهٔ غشو ته واغُستوه تېکی
تمام شوے دَ گاټلو زړونو تاب دے

مخ رونړی دَ کومې شپې وه شیرین یاره!
چې وُرک کړے ئې لهٔ سترگو زما خواب دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خال پهٔ زنه، پهٔ رخسار چې لر او بر ږدي
داغ وَ ما ته پهٔ زړګی اَو پهٔ ځیګر ږدي

هیڅ یو دم مې ستا پهٔ زلفو اثر نهٔ کا
ګېنې مار هُم اخر کربنه باندې سر ږدي

ستا دَ سترګو تور جادو یم عاجز کړے
راته کړه هر کمال اَو هر هُنر ږدي

دلداری دَ خودداری پهٔ قیمت نهٔ شي
څوک به ولې خپل پتګے بل ته پهٔ سر ږدي

هیڅ بها دَ رنې اوښکې دَ آب نښته
څوک به څهٔ ورته پهٔ قدر دُر ګوهر ږدي

ستا دَ شونډو پهٔ بدل به ئې وانخلم
څوک مې وړاندې کهٔ جامونه دَ کوثر ږدي

دَ لیلا دَ زلفو باد دے بیا رالوڅے
بنجاری به پهٔ کوم ګټ کښې اوس عنبر ږدي

دَ اشنا دَ در طواف مې پښې کړې شَلې
خدای ګواه کهٔ لا پهٔ ځایْ مې دَ نوکر ږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو سکوت دے، خاموشي ده
بې رُخي ده، بې ارزي ده
په مئينو سنګ باري ده
دومره زياته رسوائي ده
ستا دَ نوم په تذکره هُم
لګېدلې پابندي ده
هره لاره کښې مقتل دے
دَ سرونو ارزاني ده
په کُوځه کُوځه زندان دے
څۀ اسيره زندګي ده
غلامي خو ترې نه زر ده
دَ مړيانو بندګي ده

چې مئين په زر او زن شي
ترې نه پاتې سربازي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ اُلفت پهٔ هر يو راز او بِنا زده دے
چې دَ سترګو پهٔ رموز او حيا زده دے

پهٔ اغاز دَ کوم سبا خنګه بيا زده دے
پهٔ انجام دَ هر پرون ئې چې نازده دے

هغه کله محبت او اشنا زده دے
چې هر چرې پهٔ خپل ځان او انا زده دے

ستا تسبې دې شېخه! تا ته مبارک وی
زما کله کوم يو کار دَ ريا زده دے

زړهٔ مې بند پهٔ هره غُټه شو دَ زلفو
څهٔ دا هسې تور جادو دَ لَېلا زده دے

شيرين يار پرېنه مُشکی خالونه پېرى
ډېر دَ اوښکو پښتنو پهٔ بها زده دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دَ ښکلو ټِکانه ده
نو دَ زړونو استانه ده
ستا دَ سترګو لۀ نظره
داغ مې زړۀ ته نذرانه ده
نۀ زۀ درشم، نۀ تۀ راشې
دغه خنګه یارانه ده
هر سبا آو هر بېګا دې
نوې نوې بهانه ده
ستا دَ سترګو پۀ هر رَپ کښې
بیَله بیَله زمانه ده
دَ اسمان دَ تندرونو
ولې تل یو نِښانه ده

شیرین یاره! کۀ پوهېږې
هر غزل مې ترانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص دَ زلفو ئې زندان شی
ډېر مشکل به مو اسان شی
خور زما آه و فغان شی
څو به ټول همه افغان شی
بلبلان ئې په نارو دی
ستون بهار به تر بُستان شی
لهٔ جامې دې بَهر نهٔ شې
څو مې قتل هر ارمان شی
دَ ایفا ساعت به راوړی
وخت په ما به مهربان شی
وُرک په لارو کښې دَ زلفو
دَ فکرونو هر کاروان شی
ما ئې سترګو کښې ځان وُلید
دریغه! خپله اوس ګویان شی

اوږدو زلفو ته منسوب وی
دراز څکه مې بیان شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راستنه هسې ایام شي
دَ محفل هغه هنګام شي
دَ ساقي په لاس کښې جام شي
دَ سیند غاړه کښې ماښام شي
په مضراب دَ خپل رباب ئې
دَ مطرب هُنر تمام شي
دَ سپرلی مَسته هوا کښې
رونړه شپه "ماه تمام" شي
هر اشنا وَ ته په ځنګ کښې
ښکلے ښکلے ګُل اندام شي
په نغمو اَو په رڼلو کښې
یو اتڼ شي، جام په جام شي
یو مستي وي، بې خودي وي
دَ روزګار فِکرونه خام شي

دې جنت جنت ماحول کښې
هسې ژوند راته انعام شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ چا کله دومره ګران يم
لکه ګُل دَ بيابان يم
هر يو جبر ته اسان يم
هر يو غم ته دې ننبان يم
تل وَتلے لهٔ خپل ځان يم
لکه بوی دَ ګُل پرېشان يم
دَ کاروان خاپونه وران دی
مګر بيا هُم زهٔ روان يم
معرکه دَ محبت کښې
پهٔ خپل ځان باندې تاوان يم
پهٔ حساب لکه دَ مړی
نهٔ پهٔ درد نهٔ پهٔ درمان يم
هر احساس پهٔ غوږو کُوڼ دے
پهٔ خپل غږ باندې پښېمان يم

دَ وخت هر ګوزار دَ پلک دے
مګر کلک لکه سندان يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سپرلے ستا دَ نظر لتېؤم
چې سمه، غر دَ لر او بر لتېؤم
ستا دَ وصال هغه خبر لتېؤم
کله بولان، کله خَیبر لتېؤم
دَ مخ او زلفو دَ نسبت په مینه
چرته سایه اَو چرته نمر لتېؤم
ستا دَ کاکل غُټېه مې نۀ شوه په لاس
پسې کۀ ترې دَ تور غر لتېؤم
دَ یار دَ مخ دَ سرۀ اَو سپین په قدر
تا ته وې چا؟ چې سیم او زر لتېؤم
تل په دَرک دَ وِرک اشنا دَ کوڅې
دَ یو ګدا هسې هر دَر لتېؤم
لا دَ کوم درد ښترګې وَرغلې نۀ دی
دَ زړۀ زخمونه برابر لتېؤم

یو شیرین یار مې وی "هم سر" دَ عصر
پسې هر خېل اَو هر ټبر لتېؤم

۲۴_۳_۲۰۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ خپل آب باندې پوره ده
زما اوښکه پښتنه ده
ګټېه هغه يو درنه ده
چې پهٔ ځایْ باندې پرته ده
دَ تا ناز لره کاکل دے
زما ویاړ لره شمله ده
دا دې شونډې هسې رېږدی
کهٔ خطا دې بَهانه ده
ستا پهٔ سترګو کښې ځلېږم
څومره ښکلې تماشه ده
څو واعظ دَ ښار حاکم دے
ښه اباده مَېکده ده
شېخ هُم ناست دَ خُم پهٔ څنګ کښې
هُم مې ګوټ دے، هُم توبه ده

څهٔ ښهٔ شعر دے شیرین یاره!
هُم غزل هُم ترانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک دېٔ زُلفې ځوک مژګان دی
ښېښتانهٔ راباندې ګران دی
پهٔ صدف کښې دَ لېمهٔ دې
څو ګوهر مګر دَ شان دی
ستا دَ سترګو آئینه کښې
ډېر عکسونه څو حېران دی
اجزا نور هُم دَ ښائست ئې
څو دوه غوره تر عنوان دی
چې دَ بخت پهٔ طمع نهٔ دی
پرې وختونه مهربان دی
دا بې حِسه مرهٔ ځانونه
څهٔ پهٔ درد څهٔ پهٔ درمان دی
روز و شب ئې .مخ او. زلفې
پهٔ زمان څهٔ پهٔ مکان دی

دَ دې اوښکو سمندر کښې
علامې دَ غټ طوفان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ یار یاد کۀ زورَوَر دے
غم ئې لا ترې نازپرور دے
لرې نۀ ده چې یار راشی
کۀ دې لرې دَ زړۀ ور دے
ستا دَ مخ، زلفو پۀ نوم مې
هر شوقدر آو اختر دے
ما ځایْ کړے دَ زړۀ کور کښې
ستا هر خېل آو هر تبر دے
سیے دَ کلی دې وَ ما ته
لۀ سرې پردی؛ بهتر دے
پښْې مې شلې، سترګې تَپې
را پۀ سر سترے سفر دے
چیلم مات دے، حجره ړنګه
خوشے بام دے، شاړ ئې در دے

اباد کړے پۀ یادونو
شیرین یار دَ زړۀ کنډر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل زما دغه دُعا شي
ستا نظر دې مسيحا شي
خوا ئې ډکه په هوا شي
چې ئې طمع له مُلا شي
زما مينه بس په تا شي
په سامړه او کۀ په غلا شي
زړۀ په دود دَ سپيلنى دے
ستا په حُسن به فدا شي
همدردان په نامه ډېر وى
خو يو څوک پکښې دوا شي
چې دې سترګې سمندر شوې
ځان دَ چا نه به سبوا شي
خود غرضى دَ ځنګل اور دے
په خشاک نۀ په ګيا شي

ژوند به تيول تراخۀ زائل کا
شيرين يار به مې پخلا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ پهٔ دَم اَو پهٔ دُعا شي
نو خپل درد به مې دوا شي
دا سپېځلے لبونتوب مې
هم همراه هُم راهنما شي
چې زما لهٔ سترګو پريوځي
دا ګوهر دې واړه ستا شي
پهٔ وعده دَ مخ او زلفو
هُم سبا شي هُم بېګا شي
يار مې هله پښتون بولۍ
کهٔ پُښتنې له مې راشي
وفادار کهٔ جفاکار دے
خو بس دا چې يار زما شي
دَ زړهٔ حال به مې خرګند کا
کهٔ دا سترګې مې ګويا شي

دې خېلونو دې تپو کښې
شيرين يار به يو پَېدا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اضطراب اَو دَ سکون خبرې کېږی
دَ وصال اَو دَ بېلتون خبرې کېږی
یا دَ زلفو دَ شبخون خبرې کېږی
یا دَ سترګو دَ افسون خبرې کېږی
دَ یارانو دَ تړون خبرې کېږی
دَ پښتو اَو دَ پښتون خبرې کېږی
ځان لۀ ځانه شی بېرون خبرې کېږی
پۀ درون دَ زړۀ چاوْدون خبرې کېږی
هره ژبه باندې ستا دَ مخ سُرخی شی
چې زما دَ ځیګرخون خبرې کېږی
پۀ بېدیا اَو ابادۍ کښې تر یارانو
دَ لَیلا اَو دَ مجنون خبرې کېږی
هر بېګا لره دستوْر وی دَ پښو لاندې
هر سبا دَ بل قانون خبرې کېږی

شیرین یار دې "نن" زړۀ ور دے مرکې ته
ولې دا کۀ دَ "پرون" خبرې کېږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مهتاب هسې رڼا دے زما يار
لکه آب غُنډې صفا دے زما يار

چې يو درد دے، يو دوا دے زما يار
هُم قاتل هُم مسيحا دے زما يار

لکه سبورے مې همرا دے زما يار
تل زما پۀ اقتدا دے زما يار

دغه هومره مې تر خوا دے زما يار
هُم مې تن دے هُم مې سا دے زما يار

هغه روڼ چې پۀ وَيڼا دے زما يار
سپين پۀ زړۀ باندې ربنتيا دے زما يار

هَم کلام او هَم نوا دے زما يار
شيرين ياره! ښۀ پخلا دے زما يار

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ګُل ئې نزاکت دے
لکه سروې ئې قامت دے
بنۀ ئې وَږم، بنۀ ئې شکل
چې هُم ګُل دے هُم نکهت دے
خط او خال دَ مخ ابرو ئې
اطاعت، هُم بغاوت دے
زما روح دے زما ځان دے
هُم مفهوم، هُم عبارت دے
يو مستي ده، يو حيا ده
هُم شراب اَو هُم حُرمت دے
سربَکف ګُل دَ لاله دے
مرګ دَ ژوند ئې هَم ساعت دے
دَغه هسې دُرداني ته
دَ سَرونو څۀ قيمت دے

خيالي يار مې شيرين ياره!
مجموعه دَ هر صفت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یو څهٔ رنګ له نګار دے
چې مې یار دے کهٔ اغیار دے
ښهٔ دا ستا دَ زلفو تار دے
انتشار دے، هُم قرار دے
دا څو اوښکې پښتنې دی
ښهٔ معیار دے، کهٔ مقدار دے
قافله دَ ژوند روانه
مګر خلاص ئې اوس مهار دے
زما زړهٔ یو سپېلنے دے
دَ تا حُسن سُور انګار دے
پهٔ مونږ وورې تندرونه
خلق وایي نوبهار دے

شیرین یار پسې کتلے
ما هر در او هر دیار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرک دَ زلفو کښې فنا شم
رپ دَ سترګو کښې پَیدا شم
لکه اوښکه په معنا شم
چې دا هومره بې نوا شم
خدایْ مې نهٔ کا دَ تا فکر
سور په اَس چې دَ هوا شم
خدایْ مې نهٔ کا دَ تا عهد
چې قیامت باندې ایفا شم
خدایْ مې نهٔ کا دَ تا زلفې
تسنې وَسنې بې ښکلا شم
خدایْ مې نهٔ کا دَ تا سترګې
چې ساعت ساعت اشنا شم
یو مې ځان دے یو ئې سبورے
نور دَ چا په اقتدا شم؟

خپل کالهٔ وی شیرین یاره!
یار ته سترګو کښې ګویا شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ ښائست کښې غېريت وے
خو بیا مینه کښې غَېرت وے
دریغه! څهٔ خو محبت وے
یا بدل کښې قومیت وے
اطاعت کهٔ بغاوت وے
ستا پهٔ مخ دې عبارت وے
ستا دَ سترګو مَېخانو نه
هر زیړے مازیګر ست وے
دَ څو اوښکو ملغلرو
لږ دَ چا څخه قیمت وے
څهٔ به غم دَ هسې رنځ وو
ستا عادت دَ عیادت وے
زما مینه، ستا پهٔ حُسن
اباد کلے اَو محلت وے

مَل چې نهٔ شی ژوند دَ فکر
شیرین یاره! بیا قیامت وے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما زده – چې زما شام او سحر تلے
تا زده – په کوم بام آو په کوم در تلے
ما زده – چې مې زړهٔ په يو نظر تلے
تا زده – په څهٔ چل آو څهٔ هُنر تلے
څنګ نه زما څنګه ناز پرور تلے
بيا په څهٔ خبره مرور تلے
ستا په مخ او زلفو چې دعوه لرم
ما نه پرې کابل او پېښور تلے
ستا دَ اوږدو زلفو په تار شوے دے
فکر مې لهٔ ما په لوئ سفر تلے
بيا دَ بانو څنب کښې راته ست هسې
بيا مې غېږ په غېږه لر او بر تلے
غم دے؛ دَ بېې کسه کوڅه ؤوينې
خدائې شته! کهٔ په خوا دَ زورَور تلے

کله په دا زړهٔ مو زړهٔ وهلے دے
چرته لهٔ دې ګُتو مو دلبر تلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېونتوب کۀ مې شُهره شو
ستا دَ حُسن حواله شو
دا سپېځلے تفکر مې
خپل نظر لره ډيوه شو
دَ مرام پۀ خوشې لار مې
دَ ځان سپورے بدرګه شو
هر احساس مې ځنګ پۀ ځنګ دے
هر يو فکر راسره شو
پښنه نېؤلے مازيګر مې
دَ خپل مرګ پۀ تماشه شو
لېونتوب مې ابدالي دے
ستا غرور کۀ مرهټه شو

شيرين يار دې بلا ستړے
پۀ سر ځنه سنباله شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څهٔ به پاتې دَ زړهٔ دم وی
چې هر غم راته راسم وی
هر مئېن پهٔ زړهٔ کَرَم وی
داغ دَ مینې ډېر پنهم وی
چې دَ زلفو رَوِش دا دے
نو بانهٔ به ئې کوم سم وی
ورځ - واعظ زما همراز وی
شپه - ساقی زما همدم وی
وَر راپورې دَ توبې وی
دَ خُمار خمونه خم وی
ستا نظر به تا پهٔ ډک کا
زما سترګو کښې کهٔ ضم وی
هُم لاړښود هُم لاړوے یم
خپل مې پل آو خپل قدم وی

شیرین یاره! څهٔ وطن دے؟
پهٔ ښهٔ کړهٔ هُم سړے ګرم وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغهٔ سترګو وَ ته بیا سترګې پهٔ لار یم
پښه نیولے مازیګر یم انتظار یم

داسې کله ناویسا او نااتبار یم
یاره! ډېره غریبی ده ځکه خوار یم

لاس مې ډک پهٔ رنو اوښکو، صفا مینه
چې راغلے ستا دَ حُسن پهٔ بازار یم

پهٔ مسکا لکه کلۍ چې شونډې سپړی
ګرېوان خیرې دَ سحر هسې تار تار یم

ډکې سترګې سمندر یو دَ مستۍ دے
پکښې ډوب سره دَ خود او دَ اختیار یم

خط او خال، لب او رُخسار ئې پهٔ لاس راغلهٔ
شیرین یاره! اوس همه بهار بهار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ یارانو محفل خور دے
دَ سین غاړې مابنام سپور دے
خو په ما ئې پورې تور دے
خو له زلفو مې زړۀ تور دے
دغه غم دَ کلی کور دے
ګنې خلاص مې دَ زړۀ زور دے
غم دَ یار اَو دَ دیار مې
دَ ژوندون په اوږو سور دے
په دَم خَم دَ ژوند به څۀ وی
چې ئې تل له بله پور دے
څوک مئین دې سنګسارېږی
په کوڅه کښې دې بیا شور دے
یار بېګا لہ څړې سپړی
فکر اوس نه مې شب کور دے

اور دَ هجر شیرین یاره!
لګېدلے کور په کور دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو مئېن دې فرزانه دے
ستا په عشق کښې ديوانه دے
ستا نظر چې مستانه دے
هر انداز مې رندانه دے
څوک دې ناست په استانه دے
څوک دې مست په مېخانه دے
هر ارمان مې صحراګُلے
دَ هر جبر نِښانه دے
هر يو خيال مې ترمې ترمې
هر يو خال دانه دانه دے
ستا په سترګو کښې جانانه!
وينم عکس مې جانانهٓ دے

شيرين يار وَ ته اشنا يې
حَبف! چې تا ته بېګانه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور ئې پای نه تر سر واخست
ګلستان مې؛ نظر واخست
هر سحر مو دَ صبا نه
دَ ګلونو خبر واخست
یوسف مخې اشنا راغې
سترګو بېرته نظر واخست
ککۍ تورې سور خُمار کښې
لاله داغ په تتر واخست
پښتنه اوښکه وه توی شوه
آب ترې دُر او ګوهر واخست
تا که زلفې بادَولې
چا به څۀ له عَنبر واخست

هیڅ پرواز دَ بلندۍ وو
وخته! تا مې وزر واخست

(c) ketabton.com: The Digital Library



غم پهٔ زړهٔ کهٔ دَ جانان شته
فکر هم یو دَ دوران شته

پهٔ دې للمو، غاړو، پیخکو
لاله ګُلی دَ خپل شان شته

هر سپرلی ته تر لَمنې
کلکه غُټه دَ خزان شته

بلبلان ئې سر شندل کا
لا حُرمت دَ ګُلستان شته

بنجاری دَ سپرلی څهٔ کا
دَ بنکلا ئې ډېر سامان شته

ستا دَ سترګو سمندر کښې
وینم هسې یو طوفان شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ شونډو پهٔ مُسکا کښې
هر يو درد لره درمان شته

ښه ده زلفې دې خړې کړې
دَ خيال ځانله اوس مکان شته

درسته شپه دې لهٔ ما يوړه
ښه ده ستا هم يو زمان شته

اسوېلو مې اوښکې توې کړې
دَ طوفان سره باران شته

ما هُم زړهٔ نه مې "زړه لوی کړهٔ"
دَ هر سُود سره تاوان شته

(c) ketabton.com: The Digital Library


دَ ملت پهٔ اُفق ستورے دَ سبا یم
مرګ دَ لتې اوړدې شپې لره پَیدا یم

"روز و شب" دَ لر او بر مې "یکه ځار" کا
پهٔ قربان دَ هغو همنوا یم

خپل تتبر دَ وخت ګوزار وَ ته مخ نهٔ کا
زهٔ دَ هغه مجنونانو نه جُدا یم

کهٔ پهٔ ګُتو کښې مې زَر، متو کښې زور وی
لویْ حقدار دَ اوسنی وخت دَ لَیلا یم

پهٔ حُرمت چې دَ ګُلشن ئې ځان فدا کړهٔ
زهٔ دَ هغهٔ بلبلانو پهٔ ثنا یم

قومیت مې لکه ساه دَ محبت دے
تل پهٔ ننګ دَ خپل اشنا ترلے ملا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تضمین پهٔ شعر دَ رحمان بابا

شعر پهٔ ژړا مې دَ خپل یار دیدن حاصل کړهٔ
دَ شبنم پهٔ څېر دَ ګُل سره یکتا یم

درسته شپه لکه دَ پرخې پهٔ ژړا یم
بیا سحر څکه دَ ګُل پهٔ مخ ځلا یم

داسې مهٔ ګڼه؛ چې ځنګ کښې به دَ چا یم
ګڼې زهٔ لهٔ خپله ځانه ځُنګ جدا یم

نهٔ څهٔ پوی دې پهٔ سبا آو نهٔ بېګا یم
بیا هُم بنهٔ دې لهٔ وعدې یم چې ګویا یم

اورکی غُندې لهٔ خپل وجود رڼا یم
هُم پهٔ خپله لاروے هُم راهنما یم

معرکه دَ محبت کښې پهٔ ویسا یم
پهٔ ریښې ریښې شادر ترلے ملا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زما دَ پاکي ويني تقدس دے
په هر حال کښې چې دې ستايم، وايم، ستا يم

دا زما دَ لېونې مينې جذبه ده
چې قضا لره مې بيائې؛ هُم رضا يم

دا زما دَ پښتنې فکر غېرت دے
سر دَ دار باندې تېپه يم په نڅا يم

تفکر مې ځنګ په ځنګ دے تر احساسه
له خپل ځانه څخه درد اوهُمدوا يم

هغه ته يې؛ کور و کر په لر او بر يې
دغه زه يم؛ چې په ارض نه په سما يم

دَ نظر دَ پېماني معيار دې هومره!
په دا يو ساعت اعلا يم، هم ادنا يم

ستا دَ سترګو بحر څو په انتشار دے
زه هُم عکس غُندې له ځانه مې سبوا يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ګُل شونډې تخنؤمه بوئ تري نغاړم
پهٔ ګُلشن باندې ورګډ باد دَ سبا يم

دَ "رحمان" او دَ "خوشحال" سايې تکبير کړۀ
مقتديانو کښې يو زۀ مګر شِنوا يم

دَ مرام پهٔ خوشې لاره مې دا يُون دے
چې هُم سورے مې همرا دے هُم تنها يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مرام په خوشي لاره یک تنها تلُو
داسې تل هم بې همرا آو بې امسا تلُو
دا هُم ښه ده چې مو سورے دَ ځان مل وو
مونږ قائل دَ پرمختګ کله په شا تلُو؟
دَ بلا کومې ته څۀ وی دَ چا فهم
چې دَ فکر په جلب کښې به بیا بیا تلُو
کوم جواز دَ ګیلې نۀ وو؛ وخت او بخت نه
مونږه خپله مکر خلې ته دَ قضا تلُو
مونږ دَ مینې لېونو له ښائېدل دا
چې مقتل ته دې په ناز آو په خندا تلُو
چې لَیلا دَ وخت؛ اُلفت په زر او زور کړۀ
دَ مجنون غُنډې بیا کله په بَېدیا تلُو

وحشتونه ګورېدل به شیرین یاره!
خو په سترګو دَ شعور ځِنې رڼا تلُو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل نظر لره رنا یم
خپل پرهر لره دوا یم

زهٔ هم غږ یو دَ جرس خو
غوږ دَ مُړو له پَیدا یم

څوک مې څهٔ لهٔ زړهٔ چاؤدون زُده
لکه ګُل چې پهٔ خندا یم

سر دَ دار باندې هُم یاره!
پهٔ تیپه یم پهٔ نڅا یم

تهٔ غُنچې هسې خوربږې
زهٔ وږمه یو دَ صبا یم

تهٔ دَ ګُل غُندې خندېږې
زهٔ بلبل یو پهٔ ثنا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ مینې ښَه جذبه ده
پهٔ قضا خپله رضا یم

ایله دومره قدر وایم
تهٔ زما یې او زهٔ ستا یم

خورې زُلفې دې خړې کا
زهٔ تر څو به پهٔ سودا یم

پهٔ دا هومره بې قدرۍ کښې
لکه پرخه پهٔ ژړا یم

ډېر کهٔ ما ته پهٔ دَغا یې
تل هُم تا ته پهٔ دُعا یم

لهٔ پخوا دې خوا پهٔ خوا یم
لکه سورے دې همرا یم

دَ پښتو خاورې روڼزلے
شیرین یاره! تول وفا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خود وتلے لۀ شعور يم
چې درغلے پۀ دستور يم

دَ بانۀ لۀ څمبا زده کړه
سر تر پايه ولې ځُور يم

پۀ يوه مُسکا رغيږم
هغه مرګی حال رنځور يم

ځار دَ تا دَ نوم دَ تور نه
پۀ جهان کښې مشهور يم

چې پرې نوم دَ ښښتنې دے
پۀ دا اوښکه هُم مغرور يم

يار کلام، کاتۀ پېرزو کړی
ډوب سرود آو پۀ سرور يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا اوبنکه مي سره ده
پهٔ بارخو خو دي خوَله ده
اوس دَ زلفو پهٔ هر تار. کښې
سترې فکر له جوته ده
خوب او خیال کښې سکون چرته
چې ئې زړهٔ کښې هنګامه ده
سر دې نهٔ وی خو دستار وی
زمونږ دغه المیه ده
دَ جرس پهٔ غږ. شه پورته
ګنې تلونې قافله ده
ستا دَ نوم پهٔ تور مې وژنی
قضیه خو بهانه ده
څهٔ! مُنصف دَ ښار ته وایه!
بیا دَ وخت هُم فیصله ده

شیرین یار ترې څهٔ جار وُوځی
دَ یار مینه یو نشه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه دَ پرخې وربېدلې نهٔ شې
دَ ګُل رخسار ته رسېدلې نهٔ شې

یو شل احساس ئې پاربېدلې نهٔ شې
اوده جذبه ئې رېبدلې نهٔ شې

زهٔ یو وږمه یم دَ صبا، الوځم
تهٔ ئې نکهت؛ خو ګډېدلې نهٔ شې

دا دَ هجران لهٔ تاوه ځنګه ژاړې؟
پهٔ خپلو اوښکو لامبېدلې نهٔ شې

نن خو دې ډکې سترګې سرې ولېدې
حیف دے! چې اوس هُم کرمېدلې نهٔ شې

پام پسرلیه! چې تکلیف وُنهٔ کړې
پهٔ سمه، غر چې غوړېدلې نهٔ شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ پهٔ ما آو نهٔ پهٔ تا یم
دَ ربنتیاؤ همنوا یم

ځان، جهان وَ ته پهٔ شا یم
ستا دَ مخ پهٔ تماشا یم

مخ اجل ته لهٔ پخوا یم
چې مدام تړلے ملا یم

پهٔ هغه به دې منل وی
چې دَ ځهٔ سره اشنا یم

دَ دربار لهٔ سوری لرې
دَ معروض شخه ګویا یم

هره اوبنکه مې ډیوه شی
ځکه شپه کښې پهٔ ژړا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ صحرا دَ هر يو ګُل سورے دَ سر شي
دريغه! سور کۀ دومره لوئ مې دَ خادر شي
راپَيدا دې هسې بيا شام او سحر شي
همنوا چې مې کابل او پَښور شي
بلبلان به دَ ګُلشن مې سيالي ؤکا
لۀ دې سوزه دَ شپون کۀ مې خبر شي
دَ جهان سيالي پۀ ځائ ده دَ سيالانو
خدائ دې نۀ کا څوک لۀ غمه کور و کر شي
شهابي ستر ګو ته وړاندې کږه لاسونه
نه چې جوړ دَ زړۀ لۀ کوره مې کنډر شي
کوم جواز دَ کومې خوا نه ئې راؤړے
يو ساعت کښې بانۀ برند بل کښې اوتر شي
دَ خيا نه دَ اسمان. ستوري مخ پټ کا
چې سحر ئې ستا دَ مخ پۀ خا! نظر شي

شيرين يار به ئې تل زلفو ته پۀ تار وی
څۀ پۀ دا کۀ دَ بلا تر کومې وَر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ اغیار لره اغیار یه
دَ یارانو سره یار یه
کله عقل ته پهٔ لار یه
کله زړهٔ سره همکار یه
ډیوه بله کا دَ اوښکو
پهٔ شپه زلفو ته بېدار یه
کهٔ ئې ګُل دَ ښو نهٔ شي
خَبر دے خال ئې دَ رخسار یه
نور کهٔ لاس دې نهٔ بر کېږی
نو بس ښهٔ لره اظهار یه
دَ رنړا پهٔ طلب ګرځه
دَ تیارو ښخه کنار یه
پهٔ تکل دَ خپل مرام دې
لګه سیند یو ناقرار یه

دَ سینګار فکر دې وُړے
پهٔ ملا تړ دَ شیرین یار یه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ غل نوم دلته سرکار دے
چې مُنصف ئې طرف دار دے
مرګ دَ ګُل ورته څۀ کار دے
چې ماليار ئې صلاکار دے
وينو زوو باندې پايي
محافظ مګر خون خوار دے
خپله مينه ما ته اور ده
خپل ښائست تا ته انګار دے
ضمير هُم دَلې خرڅيږی
ستا دَ ښار ګرم بازار دے
پۀ خپل سوری اوس وَيريږم
هر سړے دَ وخت پۀ ښکار دے
ستا لۀ کلي کډه وُړے
ستا يو ياد مې "يارِ غار" دے

ستا پۀ ننګ باندې به ؤمری
ستا يو داسې شيرين يار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند دَ مازيګر او سحر چرته دے
ستا دَ مخ او سترګو اثر چرته دے

لاړې دَ بانهٔ، څوکې دې پُڅې شوې
داسې مې اوس سود دَ تبر چرته دے

ستا دَ زلفو وَل نه چې ځان اوباسو
مونږ څخه دا چل او هنر چرته دے

غُځ مې دَ احساس دَ زړګی سر خو دے
ستا دَ خُوږ دَ سترګو نظر چرته دے

رابه شی قاصد دغه به هُم ؤشی
مونږ له پهٔ زړهٔ پورې "خبر" چرته دے

سپينو ئې لهٔ توره ځلا ؤمونده
خال زما لهٔ خياله بهر چرته دے

مخ چې پهٔ تورتم کښې دَ شپې ؤوينی
دا اهلِ نظر دَ دَهر چرته دے

ډير تراخهٔ دَ ژوند ئې زائل کړی دی
دے لهٔ شيرين ياره خبر چرته دے

۲-۸-۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې انصاف ستا دَ "قانون ته"!
چې ساتون وايي شبخون ته
ورځ دې ضم کړله په شپه کښې
تا جدت ورکړۀ بدلون ته
دَ درد څريکه ده خوربړی
دَ زړګی نه مې لړمون ته
خپلې سرې سترګې دې کسه
يا مې ګوره زړۀ ګُلګون ته
غم دَ تا کۀ مې لړ پرېږدی
زړۀ مې ډېر کيږی ژوندون ته
دَ سبا احوال به راوړی
"نن" دې ؤلېږه "پرون" ته
انتها دَ تغافل دې
لاړه جوړه کا پاځون ته

ما نه ياد به دې يو نۀ سی
زور به ؤبنايم بېلتون ته

۲۰۰۴_۸_۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کاتۀ دې هومره نور شي
زر ده سر به مې دا پور شي
ترمې اوښکې نو هُم ښې دي
دَ زړۀ زخم به تکور شي
څو چې خواله مې را نۀ شې
څۀ به مړ دَ بېلتون اور شي
پۀ لوګی لوګی ماحول کښې
ښکلی سپين مخونه تور شي
دَ لُوګو ډکې کُوډلې
سپين محل ته دې پېغور شي
دَ دُنيا پۀ ميو مَسته!
وايه! جام کۀ دې نسکور شي
دا دَ زړۀ قيصه اوږده ده
خو پۀ سا او لږ پۀ کور شي

خدای دې نۀ کا شيرين ياره!
شوق ته خلاص مې دَ زړۀ زور شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ وعدې غُندې اوپره خبره
خدایٔ دې زما نهٔ کا کچه خبره
پهٔ زړهٔ مودو نه وه پرته خبره
مګر چې خلې ته نهٔ راتله خبره
زړهٔ به دې غټ وی؛ خو دَ تینګې نهٔ وو
ګنې دَ "خلې" وه یو ذره خبره
دَ نوی وخت دَ تقاضې پهٔ خاطر
باید چې یاده شی زړه خبره
زړهٔ به مې ډک وو؛ چې دَ سترګو نه مې
لکه دَ اوښکې څڅېده خبره
باد دَ نسیم ته زلفې خپله نیسې
تور ئې پهٔ ما چې؛ شوه شهره خبره
پرې ته مې ونهٔ وَیېل وړه خبره
خفه شوې دومره پهٔ وړه خبره

بیا شیرین یار لهٔ خدایه څهٔ غواړی نور
چې کوته یار هُم کړی کَره خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ډکه دَ وسواس شپه مې سبا کړه
دغه چُپه خلهٔ وعده دې اوس ګویا کړه

ما دَ زړهٔ زخمونه ؤسپړل سحر ته
تهٔ اوس شونډې دَ صبا پهٔ ورِمه وا کړه

ستا دَ تورو زلفو تور مې پهٔ سر واخست
ځان پسې مې دَ دُنیا هره بلا کړه

دَ زړهٔ لوښے چې شی مات کله رغیږی
څه! بدل مې دَ ویسا چرته پَیدا کړه

دَ هر در اَو دَ دیوار وَ مونږ ته سترګې
پټ پهٔ خوب دَ پیشمنی کښې دې زړهٔ راکړه

شیرین یار دې هُم اسیر دَ ګُورو زلفو
مخ روښې ورته منسوب دَ یو بیګا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهانه کۀ دې پخه شي
نو وعده به دې کچه شي
اور دې پورې په شمله شي
چې ګرېوان دې پرې ټُره شي
تخیّل به لۀ ما زُده شي
کۀ څو ورځې راسره شي
دَ جفا اِنتها څۀ کا
حوصله چې پُښتنه شي
اوپره سترګو ته دې وایه!
داسې کله یارانه شي؟
یاد دې غلې غلې راشي
شپه چې دمه شي پخه شي
جنګ کښې سترګې مخامخ کا
چې خپل عکس خو مې پَره شي

اسوېلو وَ ته مې خانده!
دَ چا خوا خو به سړه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دې کاکل هسې تار تار وُليدۀ
تا مې پۀ خاورو کښې دستار وُليدۀ
نۀ دې ما اوښکه کښې تېنګار وُليدۀ
نۀ مې تا سترګو کښې قرار وُليدۀ
هېڅ ده يو اوښکې ته مايه دَ حُسن
چا؟ دَ دې بحر انتشار وُليدۀ
اخلی مې غېږ دَ پلوشو کښې نظر
ما پۀ شفقت هُم جفاکار وُليدۀ
اوس به تېپه دَ خپلواکۍ مې آورې
ما دې رسۍ اَو سر دَ دار وُليدۀ
ډېره چرچه ده دَ ساقي دَ مېئو
دَ وخت واعظ مو پسې خوار وُليدۀ

پۀ پښتنه لَيلا ئې زړے وُکړئ
چا کۀ يو هغه شيرين يار وُليدۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې لهٔ وخته ناخبر یې
دومره ولې زوروَر یې

نهٔ پهٔ سمه، نهٔ پهٔ غر یې
دغه هسې کور او کر یې

کهٔ پهٔ خوب ئې وصل مومې
ګنه بیا هُم بختور یې

څهٔ سبا دے، څهٔ بېګا دے
لهٔ احواله ښهٔ خبر یې

خلهٔ پهٔ خیال کښې هُم کهٔ درکا
پهٔ بدل دَ زړهٔ کښې سر یې

بیا څهٔ غم دے شیرین یاره!
کهٔ خپل عصر ته "هم سر" یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ کلی ښئ احوال دے
چې زوال پکښې کمال دے
هر شبخُون پکښې ساتُون شی
چې بدلون په خو اشکال دے
مالی یار دَ دوه ډالرو
باغ دَ نوم پورې سنبال دے
هر یو ګُل ته پَیداوخت کښې
دَ خپل قتل استقبال دے
مُلا مست په مئیو ګرځی
هیر ئې واړه قیل و قال دے
ماتؤنکے دَ هر لوښی
په دا ځان خپله کُلال دے
غم هُم ډیر دَ هغه ژوی
چې دَ مړی په مثال دے

ستا وعده لهٔ مرګه تیره
شیرین یار مګر اتال دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا هغه نظر به وی
نور نه ډک سحر به وی

بیا دې مخ او سترګو کښې
رنګ به وی اثر به وی

زلفې چې بادېږی دې
بوی د ګل اوتر به وی

ستا لېونے زړهٔ پهٔ تا
هسې زورور به وی

زړهٔ لکه ماشوم زما
لا څهٔ ناخبر به وی

شپې به د شوقدر وی
ورځې د اختر به وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پۀ خوب کښې ستا دَ وصل امکان ؤليد
ګنه چا پۀ دا زمان کښې مکان ؤليد
ښنګ عدم مې خپل وجود ته حَېران ؤليد
چې دا ستا دَ سترګو تور کښې مې ځان ؤليد
دَ سيالانو دَ سيالۍ مې ارمان ؤليد
لکه ګل مې پۀ صحرا کښې خندان ؤليد
دَ خپل مخ لۀ باديه دې زړۀ لوی شی
بارې تا کۀ مې دَ اوښکو باران ؤليد
دَ مګس او دَ ګرګس خوارۍ شوې پېښې
ما بورا او عندليب پۀ فغان ؤليد
دم، قدم لره مې هُم خپله اختيار کا
دَ زړۀ کور کښې مې يو هغه مهمان ؤليد
اوس دَ زړۀ دَ آب و تاب قدر پۀ چا دے
چې ستا نُور ئې دَ حرم پۀ دالان ؤليد

شيرين يار دې چې دَ پت پۀ ډېرۍ ناست دے
ما دَ دهَر پۀ يارانو کښې خان ؤليد

(c) ketabton.com: The Digital Library



"روز و شب" به دې بیان کړم
"مخ او زُلف" به دې عیان کړم
ځان دَ تا کۀ تا دَ ځان کړم
ډېرې مینې دې حَیران کړم
ورک پۀ ذات کښې دې زۀ دومره
اوس پۀ تا دَ ځان گُمان کړم
"زۀ" چې ورک شي پاتې "تۀ" شي
دغه سوال به دې آسان کړم
آب دَ اوښکې زیات لۀ حُسنه
نور به څۀ قدر، سامان کړم
دا بازار دَ دُنیاگۍ دے
زۀ پۀ ځان ئې هُم ارزان کړم

دَ نېتهو پۀ تسلسل کښې
ډېر دې ځان ته بې زبان کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ به څۀ وینمه چرې دَ چا سترګې
دا چې کسو کښې مې عکس دی دَ تا سترګې
یو مې رونې پۀ وحشت دَ بېګا سترګې
بل مې پټې پۀ بې نُوره سبا سترګې
تَیرې کله؟ ترې پۀ نوم دَ رڼا آخلم
راغے وخت؛ څکه اوباسی لۀ ما سترګې
دَ یارانو دَ یارۍ مې څۀ روداد دے
نا اشنا کړې یَوې پېښې؛ اشنا سترګې
غم دَ هجر مې دَ زړۀ پۀ خُونه پرېوَت
زما اوچې شوې پۀ ډېره ژړا سترګې
چې دَ زلفو پۀ سایه دَ خوب هوَس وی
څوک ئې څۀ وینی په څنګ دَ بلا سترګې
پۀ سینه کښې مې ښکالۀ دَ زړګی نشته
څنګ حیا کښې آموخته شوې پۀ غلا سترګې

چاپېریال کۀ دَ غَرض پۀ دُوړو خړ دے
شیرین یاره! خو دَ زړۀ مې رڼا سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړ کښېږ دَ مقتل کۀ اودرېدلے يم
څۀ به تر مرامه رسېدلے يم

ستا پۀ ګُل رخسار چې ځلېدلے يم
تل لکه دَ پرخې ژړېدلے يم

ستا چې دَ کاکل څړې سمسوره ده
دا لکه سپرلے زۀ غوړېدلے يم

ستا دَ ژوند فضا چې معطره ده
دا لکه نګهت زۀ رقصېدلے يم

شپې ته دَ سبا دَ ستورې ځل وينم
کله دَ وحشت نه بوږنېدلے يم

داسې کوم جرس تېر وهلے شی
زۀ لکه پاڅون ته غرېدلے يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خزان دَ آمد کُوکې پهٔ بهار کړې
دَ چمن دَ بُلبلانو زړهٔ آزار کړې
دَ کمال دَ انتها پهٔ سر زوال دے
څو به کرم دې دَ جبر دا بازار کړې
ډېر یاران دَ تا مړیان دی ښهٔ خبر یم
نشته دا چې کله ما به ورکښې شمار کړې
هر مزدُور زما دَ ښار بلا مجبور دے
اوږے، تږے اَس به خلاص څهٔ پهٔ کارزار کړې
څهٔ! تپه دَ خپلواکۍ مې لا خوږه شوه
اوس به څهٔ دې دا قفس اَو سر دَ دار کړې
دَ سبا دَ ستوری ځَل به دې زړهٔ بل کا
اے! چې ناز پهٔ تسلسل دَ شبِ تار کړې

لیونے سپیلنے کرځه اوس کوڅو کښې
کهٔ پَیدا پکښې یو هاغه شیرین یار کړې

۲۷-۵-۲۰۰۵

دَ مرګ کوټه، کوټ لکهپت جېل-

(c) ketabton.com: The Digital Library



عام و خاص وته معلوم شوم
چې بېلتون کښې دې معدوم شوم

ته مې څه له لاسه ورکړې
ترسايې خپلې محروم شوم

مينه حُسن ته منسوب ده
چې دَ تا سره موسوم شوم

کتهورې له زانو غوارم
په لوئ والې کښې ماشوم شوم

دَ عصمت حرمت دې پالم
له مستۍ ډېرې معصوم شوم

په وعده به دې غُلېږم
ستا دَ خُلې هسې کۀ اوم شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې فنا مې لۀ نظر شوې
داسې ورک پۀ کوم "نظر" شوې
کۀ پۀ "زۀ" دې زورور شوې
بیا منم چې معتبر شوې
ځنګه ځَنګ کښې مې راتول وې
خو چې لاړې کور و کر شوې
پۀ ګوګل کښې مې زړۀ رېږدی
یاره څۀ دَ ژمی نمر شوې
زۀ به اوښکې نه زړۀ لویْ کړم
تۀ کۀ خال نه لاس پۀ سر شوې
زۀ هر پېر به دَ نګهت یم
تۀ کۀ نُور نه ډک سحر شوې
زۀ به هغسې دلدار شم
تۀ که هغه رنګ دلبر شوې

لۀ همکارو څخه لاړې
دَ خام خیالو همسفر شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خومره چې حَېرانه ده
هومره سرګردانه ده

راخو شه! محفل وَته
څهٔ قيصه روانه ده

بيا ساقي بې پامه شوې
دا خبره ګرانه ده

وژني مې خو سترګو کښې
ډېره ځان اسانه ده

اوس شوه کوربنه دَ زړهٔ
ما چې وې: مهمانه ده

دا پېښتنه اوښکه ده
ما ته بلا "ګرانه" ده

لا ئې ستم زور وُکړهٔ
ما به وې: ستومانه ده

څهٔ زده؟ شيرين ياره! چې
روغه ئې، کهٔ ورانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پت پالم، وفا کؤم
سود دَ زړۀ پۀ تا کؤم
دا خو دي پۀ ننګ اولاړ
مینه به دي بیا کؤم
راغلم دي کوځې وَته
زۀ لتیون زما کؤم
زړۀ مې چې زما نۀ شو
اوس ویسا پۀ چا کؤم
نور لۀ سحر څۀ وائم
لا خو به خندا کؤم
ستا پۀ زلفو دم یَمه
ډار څۀ دَ بلا کؤم
زۀ دي ستا دوا شمه
تل دغه دُعا کؤم

ځار دَ زلفو تور نه دي
اوس دَ څۀ پروا کؤم

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو لکه پخوا نهٔ شې
لا به مې همخوا نهٔ شې
څو چې مې همرا نهٔ شې
هومره به اشنا نهٔ شې
څهٔ ګیله دَ بله ده
خپله خپل خَیر خوا نهٔ شې
دا هغه مابنام دے خو
تهٔ به هسې را نهٔ شې
ګوره! زما سترګو ته
بل خوا به پَیدا نهٔ شې
اوښکې پښتنې کُسه!
اوس به هُم پخلا نهٔ شې؟
زړهٔ دې پرې پېرلے دے
خلې نه دې پشا نهٔ شې

دا دَ شیرین یار کلے
دلته کښې افشا نهٔ شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره کریکه به اذان کړم
ګوره شپه به په لړزان کړم
شوق دَ عشق به مې دَ شان کړم
هر خواهش به پرې قربان کړم
ترمه اوښکه چې بهیر شي
تغافل به دې حَېران کړم
ځم ماضی وَته مې ګرځم
ښُپه نیؤلے چې دوران کړم
تهٔ خوارهٔ ایله لبان کړې
زهٔ ریښې ریښې ګرېوان کړم
همنوا شه پهٔ محفل کښې
چې پهٔ چغه "یا قربان" کړم
دَ پجوا لکه خو راشه
چې دَ زړهٔ پهٔ ملک دې "خان" کړم

دَ کاکل ملک ئې تسخیر دے
خو کهٔ ځان هغه افغان کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ دې زړۀ دَ التفات شي
بیا مې خیال دَملاقات شي
ګُرم مې صبر مَګر نۀ دے
خو دا جبر دې لږ زیات شي
دَ رُخسار سُرخي کۀ دا وي
دَ یاقوت بازار به مات شي
پۀ شین خال به دې وانخلم
زمرد کۀ دَ سَوات شي
دا جذبه دَ لېونتوب وي
لکه غر غرور چې مات شي
دا مُهم ابراهیمي دے
مات به لات او هر منات شي
زۀ لۀ تا چې مینه غواړم
لکه تږے چې فِرات شي

لۀ دیاره پسې وُرک شه
شیرین یار چې درته یات شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا اوربل چې کړۀ زما نه دومره خوَر زړۀ
ما پَیدا دَ زړۀ پۀ زور کړۀ هومره نور زړۀ
دَ نظر پۀ پلوَشو مې کړه تکور زړۀ
ستا دوا ته مې مائِل کړۀ ډېر پۀ زور زړۀ
نور دې لاس دَ ببلتون نېوه؛ زغم تمام دے
سوزَوی به راله څو داسې پۀ اور زړۀ
ستا دَ زلفو سیاهی چې به لا څۀ وی
چې دې سپینو اننګو کړۀ راله تور زړۀ
دَ جفا پرده پۀ جبر باندې څو کړې
دا چې ؤګنډې مې خلۀ نو کاندی شور زړۀ
دَ بلا لۀ سِوری کله؟ مې وسواس دے
مګر نۀ وی کله کله مې پۀ کور زړۀ
دَ حالاتو پۀ تورتم کښې نبغ پۀ لار ځی
سترے سترے کۀ دے؛ نۀ دے لاشب کور زړۀ

زړۀ به څۀ پۀ کوم پړاوْ کښې هغه در کا
چا چې کړے ژوند مدام لۀ بل پۀ پور زړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلې نه زما ئې څو اوښکلې نۀ ده
داغلې ژبه هومره غلې نۀ ده
ما پۀ اسره جذبه وژلې نۀ ده
ستا پۀ څادر مې ملا تړلې نۀ ده
پۀ سر دَ دار دَ رسۍ وَل مې ګواه
ما دې پۀ سر سودا منلې نۀ ده
ځکه مې کښې په نشتر اوباسې
ما پلوشه دَ نُور غندلې نۀ ده
ورکړه اوس اوښکې ته مې غېږ دَ بانو
پۀ عمر تول چرته درغلې نۀ ده
لا به قلم څوکه تېرۀ ګرځؤم
لاس ته راغلې څو "اوښکلې" نۀ ده

ستا شيرين يار به پۀ تا درون ورے مګر
دا زمانه دَ تول او تُلې نۀ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلۀ ما ته به همکار شي
چې خاوند دَ خپل اختيار شي
دَ حالاتو ګرفت هېڅ دے
خو کۀ خلاص لۀ خپل حصار شي
دَ ادراک پۀ نيلي سور شه
چې زمان ته پۀ رفتار شي
خپل مرام به دې ښيپې ښکل کا
کۀ روان زما پۀ لار شي
آواره فکر مې خپل کړه
چې پۀ بحر و بر آوار شي
پسرلے دَ خيال مې پور کړه
چې آباد لکه ګلزار شي

ما دَ٠درد کريکه مې بانګ کړه
بايد! اوس خو چې بَېدار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چې لولپه نهٔ شي
خوا خو دې سړه نهٔ شي
ځومره نظر سپک دې کړهٔ
نور لهٔ دې ښه نهٔ شي
څو نهٔ شي محروم، مظلوم
عدل به ئې زده نهٔ شي
کَمه دَ حرص چې ده
چرې به پوره نهٔ شي
لا مې نظر سترے کړه
ستا به هُم دمه نهٔ شي
جوړ دے دَ ښکلا وقار
سترګې دې اوېره نهٔ شي
سم دَ .هرکلي سره
ګوره! "مخه ښه" نهٔ شي

ځار! لهٔ پېښتنې ستر
خوب کښې هُم ښکاره نهٔ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ زما فکر او خیال زده
زهٔ دې هُم زلفې او خال زده
زهٔ منلې دَ اقدار یم
تهٔ دَ سترګو مې هر سوال زده
سیاه خال نه دې معلوم کا
دَ هر سوی زړګی حال زده
ما چې سُر دَ مینې تار کړهٔ
کاش! کهٔ تا دَ وصل تال زده
دا چې! لوښے دَ زړهٔ مات شی
رغاوے ئې کوم کلال زده
ؤلې رنګ دې هسې تښتي
دلې خلق تول احوال زده

دَ ارمان څلے به څهٔ کړم
رسم، څوک؟ دَ شال، مشال زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما نه مې نظر دے ورک
تا نه دې اثر دے ورک
څوک لۀ خپل کنډر دے ورک
چا نه خپل دوتر دے ورک
دا چنې، کوڅې خوشې
اوس چې لوئ ټبر دے ورک
چرته لوټه، پټه
چرته کښې څادر دے ورک
دلته کۀ دستار ريښې
هلته مګر سر دے ورک
مړه ده دَ دلدار وضع
ناز هُم دَ دلبر دے ورک

زلفې پۀ کابل فنا
مخ پۀ پېښور دے ورک

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريغه! يو پهٔ زړهٔ مابنام
ما ته خوله پهٔ خوله مابنام
دا تيارهٔ تيارهٔ مابنام
بيا سپېرهٔ سپېرهٔ مابنام
نهٔ هسې ډېوې بلې
نهٔ هغه راتلهٔ مابنام
بيرته لوپتېه نهٔ کا
داسې بيا دَ څهٔ مابنام
تنبتى انتظار نه مې
دا دې هم لا بنهٔ مابنام
ستورى پهٔ اسمان ځلى
درومى چُپه خوله مابنام
زړهٔ ته لَلې لو وائم
هاو! کهٔ شى اودهٔ مابنام

ستا دَ زلفو تورو ته
شى اوبهٔ اوبهٔ مابنام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ درد و غم او اذیت قیصه ده
زما قیصه دَ محبت قیصه ده
لړ مې دَ اوښکو شور ته غوږ ؤنیوه
نظم کښې خنګ دَ بغاوت قیصه ده
دَ شک آو یاس له هره تپوکه خالی
زما دَ عزم او جرأت قیصه ده
ستا دَ زلفانو، بانړه، خال په نوم مې
دَ صبر، زغم، استقامت قیصه ده
لاره کوڅه او په حجره ئې ګورم
وړکه دَ ننګ، پت او حُرمت قیصه ده
دَ زلفو تار په آئینه کښې کښې
خومره اُوږده اوس دَ حَیرت قیصه ده
ستا په هر تال کښې انتشار انتشار
زما هر تار کښې دَ وحدت قیصه ده

دَ شیرین یار دَ اسوېلو په ژبه
ؤګوره خومره دَ حدت قیصه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظم

خپلــــه خـــاوره خپـــل قـــانون وے
پــۀ خپـــل واک کښـې مـو ژونـدون وے

بنــــــدګی شـــــوه دَ مړیــــــانو
مـــرګ دَ نـــن نــه پــۀ پـرون وے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امن او ښکلا

دَ خزان قاصد په شا شی
دَ سپرلی قافله راشی

غاټټولونه، لاله ګلی
په دا پولو، پټو بیا شی

اومه خلۀ غټی موسېږی
ښکهتونه په ګډا شی

بوراګان هسي بڼېږی
بلبلان سر په ثنا شی

دَ وطن دا ګلستان مو
امن امن شی ښکلا شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ازادي او وطن

دَ وطن نه چرته لرې
دَ ظالم صياد ولقه کښې
يو مرغۍ دَ سيالو سياله
وي راګيره په پنجره کښې

په فضا کښې چې سَبل ويني
نو الوت دَ وطن غواړي
په خپل بڼ پسې پرېشانه
خپلې جالې پسې ژاړي

ازادي کۀ لوى نعمت دے
خپل وطن هُم يو جنت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اے دریغه!

چې پتکے دَ امامت وی
خو شمله دَ شجاعت وی

دَ مطرب لۀ دې ربابه
يو نغمه دَ بغاوت وی

دَ شپونکی لۀ دې شپېليه!
بيا تپه دَ حريت وی

وفادار کۀ جفاکار وی
خو يو يار پۀ هر صورت وی

خيال مې باد ته دَ وخت وايی
پستنه يو تېر ساعت وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا دُعا دَ حجرې (دېرې) په جوړېدو وُليکلے شوه

## خدايه!

دا اوتاک مې ګُلستان هسې ودان کړې
مګر دا چې ئې په عمر جاودان کړې

وسيله ئې دَ خُوږ زړونو دَ درمان کړې
مرتبه ئې دَ جنت دَ سائبان کړې

سرچشمه ئې دَ نړۍ دَ امنيت کړې
عمارت دَ مِلتونو ورځېران کړې

دمه ځاىٔ چې دَ بادشاه هُم دَ ګدا وى
شناخت ئې خاص و عام باندې عيان کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر مېلمه اَو مسافر ته زړۀ فراخه
برکت ئې دومره زيات دَ دسترخوان کړې

دَ جرګو او مرکو وَ احاطو له
يو مرکز ئې دَ همه پښتونستان کړې

څو تِيلې مې راټول کړی پۀ خوارو دی
دغه جاله پۀ امان لۀ هر طوفان کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځواني

## دَ ځوانۍ په حقله دَ درې پوهه شاعرانو نظر

### غالب

ښۀ ساعت او روغ صورت وي
نو ځواني هُم بادشاهي ده

### خوشحال ختټک

دَ بادشاه لۀ پیرۍ ښَه ده
کۀ ځواني دَ مُصلي ده

### رحمان مومند

چې ځوانۍ کښې تقوادار وي
مرتبه ئې دَ ولي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ وخت لیلا

ګُتو کښي زَر متهو کښي زور غواړی ښځه
په زړه کښي شور په خلهٔ کښي اور غواړی ښځه
ښکلے محل په رنګ له کور غواړی ښځه
هر سهولت یو په ځلور غواړی ښځه

دا چي قدم دَ خپل شباب اَخلي
ښه جائزه دَ ژوند دَ باب اَخلي
په یو ساعت دَ ژوند حساب اَخلي
هر یو خراج په آب و تاب اَخلي

دَ وخت لَیلا دَ مجنونانو نهٔ ده
دَ بَبَر سرو نشیانو نهٔ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګران مشر اجمل خټک ته

دا زوال دې لاندې سر شه
لا کمال دې باندې بر شه

دَ مستۍ همه سپرلي هُم
بیا دې خور په لر او بر شه

دَ رنګ رنګ نِکهت پیرونه
لۀ تور غره تر سپین غر شه

مابڼې چغه دَ وحدت کا
ایلم بیَرته اوچت سر شه

بولاڼ بیا له ملا ترلې
خَیبر هُم بنۀ رابېر شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ لندې او اباسین کښې
غُرځنګونه زوروَر شه

شي تازه دَ ګودر غاړه
راژوندے دي مازيګر شه

پاڅي پوک وَهي شپيلۍ ئې
شپونکے بيا پهٔ ټپه سر شه

مطربان دي چنګ تر څنګ کا
هر مضراب ئې پهٔ سُر بر شه

هر ساقي باده پهٔ لاس کښې
ستا دَ ترِو. پهٔ خوا ورشه

ډيوه بله پهٔ حجره کښې
وحشت چاودے پهٔ ځيګر. شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا درنو درنو پټکو کښېږي
شملې لَکې برابر شه

خدای مې چغه درته بانګ کا
راپَیدا دې ورک سحر شه

په انګڼ کښې دې اتڼې
لهٔ کوڅې دې وير بهر شه

هره شپه درته شوقدر
هره ورځ درته اختر شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوره په هر کالی

دَ ښائست يوه هستي ده
يا خو حُوره يا پري ده

که له خط او خال مُشکي ده
نو له زلفو عنبري ده

ګُور کاکل ئې سياهي ده
سپين جبين ئې روښنائي ده

ځلانده ماه تمام ده
خو په بام نهٔ ده مخفي ده

دَ حُرمت، حيا پرده کښې
يوه نغښتې باريکي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



موئ کمره، لاله لبه
پهٔ چشمانو نرګسي ده

لکه ګُل وي خوشبوداره
هُم بنائِست دے هُم خوبي ده

پهٔ قامت کښې لکه سروې
پهٔ غاړه کښې صراحي ده

سر تر پایٔ پهٔ سُرور ډوبه
پهٔ رګ رګ کښې ئې مستي ده

پهٔ رګ رګ کښې ئې مستي ده
خو ښېښوه ئې زاهدي ده

خوئ کښې تلې فرښتو ته
لهٔ جنته ئې بوتي ده

یا بُلبُله یا مینا ده
دَ ګُفتار ئې شیریني ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ بیان کښې وزن داره
دَ مفهوم ئې رواني ده

پهٔ ادراک اَو فهم دواړه
لا سپوا تر هر سړی ده

هُم پهٔ راز اَو پهٔ رموز کښې
ډونګی زیاته لهٔ کوهی ده

علم داره، عمل ناکه
بې حسابه نایابې ده

شیرین یار ئې څهٔ صفت کا
دا پُوره پهٔ هر کالَی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ما ته یاد شی اے وطنه

ما ته یاد شی اے وطنه! همه تېر زاړۀ وختونه
زما زړۀ باندې پراتۀ دی هغه ډېر خواږۀ یادونه

هغه زۀ چې یو ماشوم وُم
زۀ به پروت وم پۀ ځانګو کښې

پۀ خولۍ کښې، کله ترخ کښې
ډېر پۀ ناز او پۀ نخرو کښې

ما ته مور به الله هو وې
دَ اواز خوږو چپو کښې

خور او ورور لَلې لَلو وې
ترنم او پۀ نغمو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لۀ دې پس شوم پۀ خپوړو
او بيا ساه راغلے پاپو کښېږي

ما وهلې به بيا منډې
ستا پۀ پولو، پۀ پټو کښېږي

پۀ تکل دَ تاروګو به
ګرځېدمه پۀ وابښو کښېږي

يا مشغول به وُم پۀ لوبو
چرته ګټو پۀ ټيکرو کښېږي

چې رابره به سپوږمۍ شوه
پټ پټونې نه دَ ستورو
ما ته ياد شې اے وطنه!
زما زړۀ باندې پراتۀ دی

ما غُبنتل به ترې مَمونه
اخستل به سې خوندونه
همه تېر زاړۀ وختونه
هغه ډېر خواږۀ يادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په کلو، په باندو کښې
هلکان چې به تولګی وُو
په رنګ رنګ له هغه لوبې
ښه په درز به ماښامی وُو
یا به لوبه وه دَ سیو
ښه تاو شوی به لنډی وُو
یا به لوبه مو دَ پانې
یا انګی کښې به مَلی وُو
هغه بل خوا جینکو به
څو جوړ کړی کورکی وُو
یا جوړ کړی ئې وادُونه
دَ ګُوډی او ګوډاګی وُو
هُم ئې لوبې دَ موسیَو
په چیندرو کښې الګوډی وُو
یا داوُونه په میرګاټو
"یا وَنی" او "دووَنی" وُو

چې به جوړ شُو په حجره کښې دَ ځلمو دوه طرفونه
یا دَ مخی ګُوزارونه یا ټیکونه، اکوړونه
ما ته یاد شی اے وطنه! همه تېر زاړهٔ وختونه
زما زړهٔ باندې پراتهٔ دی هغه ډېر خواږهٔ یادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ستا په للمو دشتو
چې به راغلۀ بهارونه
توکېدلی به غاټول وُو
آو لاله هُم سرۀ مخونه
کله شین، کله باران به
ځانله ځانله ئې خوندونه
کۀ به جوړ دَ بوډۍ ټال شو
دَ قدرت؛ جمع رنګونه
هُم اباد دي ګودرونه
مَستي جونه قطارونه
پۀ ترخونو کښې منګی ئې
پۀ یو بل باندې ټېلونه
یا پۀ سیند کښې شاه ځلمیانو
چې پۀ مټ به کړۀ جالونه
پۀ مهیانو پسې ځَړ کښې
پۀ څَپْیاکو ګُوزارونه

چې سیند غاړې ته پۀ اُوړې اچول به مو سپرونه
پۀ چپو کښې به تاړه وې تش بازو آو شنازونه
ما ته یاد شي اے وطنه! همه ټېر زاړۀ وختونه
زما زړۀ باندې پراتۀ دی هغه ډېر خوارۀ یادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر مابنام هغه مابڼ ته
دَ مارغانو تلۀ سېلونه
پۀ اسمان کښې به رواني
هغه زانې قطارونه
پۀ بېلو کښې سُرخابانو
چې به وُنيؤل ناوُونه
پۀ مېره کښې چې به خُرارو
راچېړل دَ زيل سُرونه
دَ طوطيانو، ښاروګانو
پۀ هر بڼ کښې اوازونه
دَ زرکانو، طاؤسانو
هغه کړيکې او چړکونه
يا لۀ جارو ترنګؤل چې
تاروګانو خپل تارونه
پۀ نارو به وُو تنزرى
دَ مرَز پچ پرَکونه

چې نغمې وې دَ بلبلو دَ کوئل خوارۀ کُوکُونه
څنګه ډک وُو لۀ سُروده سحرونه، مابنامونه
ما ته ياد شى اے وطنه! همه تېر زارۀ وختونه
زما زړۀ باندې پراتۀ دى هغه ډېر خوارۀ يادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دَنګ اَو اوچت غرونه
تر اسمانه ئې سَرونه
په لمن کښې ئې غُزان وُو
په سرونو ننښترونه
ګرځېدل ئې سردرو کښې
دَ زمريانو کنډکونه
دانګېدلې غرڅنى به
شرړېدل به ابشارونه
په هوا شيکرى، بابښې وې
په غوټو به وُو بازونه
خزندو اَو درندو نه
سُورې ډکې هُم غارونه
دَمه شپه کښې راؤښکل به
شرمخانو اوازونه
پرقېدهٔ به اورکى – هم
دَ پېريانو لاټېنونه

چې جهان پرې ښائستِه وو | دَ فطرت بلا رنګونه
زما سترګو کښې ځلېږى | دَحيات واړه عکسونه
ما ته ياد شى اے وطنه! | همه تېر زاړهٔ وختونه
زما زړهٔ باندې پراتهٔ دى | هغه ډېر خوارهٔ يادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه موج اماج دَ زمکو
دَ هر چا زمینداري وي
پرې اباد وُو ارتونه
دَ هر چا قُلبې، جورې وي
دَ اسانو او غویانو
جوړ زغلونه او مېلې وي
ښهٔ چېکار چېکار کندوان وُو
ښې پرېوانه به غلې وي
وُو محدود ضرورتونه
پهٔ تونې کښې خو توښې وي
بې ضرر دَ خاورو لُوښې
کهٔ دونې، کټوې، کاسې وي
یو توشک، یوه شړې وه
کڼاوې وې او پنې وې
دَ ژوندون اوږې وې سپکې
ملازې وې نهٔ نخرې وې

چې پهٔ لَو او پهٔ غوبل به لګېدلې اشرونه
دَ یو بل پهٔ کار راتلهٔ به وُو دا هسې عالمونه
ما ته یاد شي اے وطنه! همه تېر زاړهٔ وختونه
زما زړهٔ باندې پراتهٔ دی هغه ډېر خوارهٔ یادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ډکه به حجره وه
سره تول درانۀ پګونه
ښې ډزني ډزنې کاتې وې
ښۀ دراز دراز قدونه
پۀ پټکو کښې شملې لکې
پۀ ځنګ تورې، ټوپکونه
ګرځېدل به تاو بربتونه
دَ غَیرت او ننګ مړونه
پۀ جرګو هوارۀل ئې
تول خندونه، جنجالونه
لاس پۀ نام ورته کسبیان به
پۀ چکر ئې چیلمونه
ماسخوتن به دَ ځلمیانو
پۀ حجرو کښې محفلونه
دَ منګی هغه ټنګونه
پۀ ربلو ئې ربابونه

چې دَ خوند آو دَ وقار وُو ښکلې واړه ساعتونه
مینه مینه وروروَلی وه کشالې وې نۀ جنګونه
ما ته یاد شی اے وطنه! همه تېر زاړۀ وختونه
زما زړۀ باندې پراتۀ دی هغه ډېر خوارۀ یادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آه ----- نجات

نۀ مو خود شته نۀ اختيار
نۀ مو زيست شته نۀ روزګار

نۀ ثاني دَ فريد خان شته
چې تسليم کا هندوبار

نۀ ميروېس پۀ بېرته راغے
کا ګورګين پۀ ګور دوچار

نۀ پيدا بل احمد شاه دے
چې مرهټ شي بېرته خوار

وران دوتر دَ شيخ ملي دے
وړک احمد ملک سالار

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ مُهم دَ یوسفزو شته
چې مغل وُکاندی ډار

سوړ تحریک دَ پیر روښان دے
دَ خپلواک غلے پرچار

دریا خان او ایمل خاورې
دَ ملت خُونه تار تار

نهٔ پهٔ رنګ دَ فتح خان څوک
چې پرې ناز وُکا پنجتار

بند تپه دَ ملالۍ ده
پهٔ یرغل نهٔ دے ناتار

کوم دے زړهٔ دَ ملتانی اوس
پهٔ فبرنګ نهٔ شی ایسار

نهٔ مو ګُتو کښې قلم شته
نهٔ پهٔ لاسو کښې تلوار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دائرې دَ استقبال له
مونږه نۀ لرو پرکار

نۀ پۀ زَرو باندې شتۀ يُو
نۀ پۀ زور باندې نامدار

پۀ جامه مو څۀ کار نشته
خو مئين يُو پۀ دستار

دَ پټکي ترړل مو نۀ زدۀ
نوم به غواړو دَ سردار

نۀ پخپله څۀ کوے شو
نۀ څوک بل پرېږدُو اوزګار

دَ ملت پۀ کار ناپوهه
دَ ځان سُود لره هوښيار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ یوه تکه خرڅېږو
زمونږ دَغه دے بازار

ډېر شتهٔ من دَلي یادېږی
نمک خوار دَ استعمار

پهٔ رنګ رنګ لره جامه کښې
دلال راشی دَ بادار

څومره لوبې پهٔ مونږ ؤکړې
هرې پېښې پهٔ بار بار

هر خاطر به وی لاجمع
څو چې نهٔ شُو تول همکار

خدای دې وُکا شیرین یاره!
پهٔ پښتون راشی بیا وار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مشر نځو خان ته!

دَ دې کلی ثانی پلاره
نر سالاره لوئ سرداره

سینه وره، وضع داره!
دَ خپل قام لهٔ غمه خواره!

مُناره درپسې ژاړی
راشه بیا ورته پهٔ لاره

کهٔ دا لارې دی غوَښ شوی
ستا دَ آس دَ تاپ دَ پاره

سر لهٔ گوره کا راپورته
گوره! کلے تر بازاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا منم؛ څۀ ځان ځانی ده
دَ هر چا ده خپله چاره

هره چاره بازاری ده
خلقه شؤله سودماره

مګر ستا دَ نرې وينې
يو څو څاڅکی تازه داره

دا دَ نوی کُول ځلمی دی
دَ خپل وخت نه خبرداره

لۀ مړانې عبارت دی
پۀ جذبه دَ ننګ سرشاره

"اجازه" دې يوه غواړی
دا دسته ده نوره تيّاره

باتوران دی خو بس دا چې
اوس بې مشره، بې سالاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



څۀ به ښۀ وی کۀ بیا راغلې
دَ تا ډاډ ته پامته داره

یا خپل سورے راپېرزو کا
پۀ دا هُم دې منت باره

دَ دې کلی ثانی پلاره!
نر سالاره! لوی سرداره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوحه

## (دَ يو مشر په تلين)

دَ هوا قاصد خبر راوړو قَفَس ته
وې ئې: غَوږ شه! ستا لهٔ کلی يو ابا لاړ

ما وې: ژبه دې شه ګُونګه، خلهٔ دې ماته
څهٔ درُوند غم پهٔ خُونه راغے — "لوىٰ لالا" لاړ

دَ جنت رضوان ولاړ ئې هَرکلی ته
چې پاک روح ئې پهٔ پرواز شهٔ پهٔ سما لاړ

هيڅ جامه ئې دَ ريا دَ زُهد نهٔ وه
حقيقت کښې پهٔ دا دؤر وو پارسا – لاړ

هُم خوددار وو، هُم دلدار وو – بلا ؤشوه
په يو ذات کښې چې فقير وو هُم باچا – لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښهٔ پاکانو پکښې نوَرې خپل لړلی
دَ دُنیا لهٔ آب وَ ګِل؛ مګر صفا لاړ

مرتبه ئې دَ "وَلی" نه کمه نهٔ وه
اُف! دَ مرګ پهٔ بهانه رانه وېړیا لاړ

دَ حجرې دالان کهٔ وير کا؛ وَرله ښائی
چې درست "آب" ترې مقدر ته پهٔ رضا لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تخیل

تخیل مې لکه باز دے
بلندۍ کښې ئې پرواز دے

لهٔ هر باده، هر طوفانه
هسې رنګ له بې نیاز دے

دَ باتور هسې تُورزنے
پَر او پنجه کښې ممتاز دے

پهٔ تورتم دَ شپه کښې وینی
دے یَو هغهٔ نظرباز دے

مُستحق دَ بلا داد دے
سزاوار دَ هر اعزاز دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه آو زهٔ

هغه زلفې چې خنې کا
پکښې وتومبې ګلاب
هغه سترګې چې کا تورې
پکښې کښېنوی قصاب

هغه غوړې تازه شونډې
پکښې خوند پټ دَ کوثر
لا باده چې پهٔ پياله کا
پکښې ډوب کا مست نظر

بيا کوم شان دے او کوم ځان
ځهٔ توبه ده، ځهٔ ايمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ بُلبُل ناله

(دَ یو اشنا په تلین)

دَ خاطر بلبل آزار شۀ بهار لاړو
ډک دَ ګل دَ خنداګانو سهار لاړو

لکه باد چې پۀ مخ راشی ځېنې تېر شی
ولې دا چې هسې ډېر پۀ رفتار لاړو

ما چې طمع دَ یارۍ ئې تر ابد کړه
هغه یار دَ یو ساعت پۀ اتبار لاړو

ما پۀ اوښکو ملغلرو به پېرلو
خومره سهل دَ دُنیا پۀ بازار لاړو

اوس نغمه کۀ پۀ خلۀ راشی خو ناله شی
چې مطرب اشنا لۀ چنګ و ستار لاړو

دَ همزولو دَ تولی نو څۀ سیالی ده
چې ئې خاورو لره ګُل دَ دستار لاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آه -----درونږ پښتونه!

نهٔ شمله، نهٔ دې جرګه شته
نهٔ حجره، نهٔ دې کتونه
نهٔ چیلم شته نهٔ ګسبیان شته
نهٔ دې رعب او نهٔ برېتونه

نهٔ تهٔ مشر هسې پاتې
نهٔ دې هغه کشران شته
نهٔ دې "راشه"، نهٔ دې "درشه"
نهٔ دې هغه دسترخوان شته

درونږ پښتونه! ځان دې خوار کړهٔ
تا لهٔ ژونده جوړ بازار کړهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library


# حالات او باور

تهٔ دې ناز کړې پهٔ جمال
زهٔ غره يم پهٔ جنون
زهٔ قائل يم دَ وصال
تهٔ خوښيږې پهٔ بېلتون

تهٔ اخته پهٔ تغافل
زهٔ لګيا يم پهٔ پاخون
تهٔ دې ياد پهٔ خور کاکل
زهٔ موسوم يم پهٔ تړون

څو کهٔ بېله لرې لار
تا به څان ته کړم همکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وطنه-----خو!

درست عالم به در حېران کړم
تا به ټول ودان کړم
دَ تا دشتې دا مېرې به
زۀ ښېرازې ګُلستان کړم
دا چَنې او دا کوڅې به
زۀ دې ښادې پۀ جهان کړم
تا به زۀ جانان جانان کړم
تا به زۀ جنت نشان کړم

خو دا خپل دَ قام وګړی
لۀ هر خوا راته بدخوا دی
څوک دَ لاس نه مې رانيسی
څوک دَ پښو نه مې راکاږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ ما ګران لهٔ خپله تنه
اے زما خوږه وطنه!
دې علت سره پهٔ جنګ یم
خپل هیئت نه چې پهٔ څنګ یم
کهٔ پهٔ ژوند ترې نه اوزګار شم
ګنه ستا هلهٔ پکار شم
نو کهٔ خاندې او کهٔ ژاړې
دَ سر خَبر به راته غواړې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دَ استعمار دلال ته

تهٔ ملګرے دَ يرغل
زهٔ ملا ترړ مې دَ خپل تل
تهٔ يې غل دَ غلو تر ځنګ
زهٔ يم ساد دَ سادو مل

تهٔ پرچار دَ اطاعت
زهٔ نغمه دَ بغاوت
تهٔ سبق دَ غلامۍ
زهٔ ټپه دَ حريت

تهٔ دې خپله نيوه لار
زهٔ به خپل کومه کار

(c) ketabton.com: The Digital Library


# رنه اوبنکه دَ پښتنې لَيلا په نوم

چې به شته شي که معدومه
ما ته هيڅ نه ده معلومه
ستا له ياده زېرېدلې
توره شپه وه دَمه شومه
واخله غېږ کښې دَ شفقت ئې
رنه اوبنکه ده ماشومه
مګر ښکل ئې هم په خيال کا
دا معصومه په خوله اُومه
دا مې تا ته کړه منسوبه
ستا په نوم به شي موسومه
لکه ما هسې بې نُومه
خدایٔ دې نه کا څوک محکُومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښکلې دَ خپل کلي

دَ حیا په تان ساتلې
نازولې ښه ښاغلې

جینکۍ لکه پېروۍ
هلکان ئې کلک کوټلي

راته ښکاری ئې په ورانديې
دَ جهان ښکلي ناولي

په زندان کښې راپه یاد شي
همه ښکلې دَ خپل کلي

ډېر مئېن پرې شیرین یاره
په شعرونو مې نمانځلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قطعات

ستا پهٔ زلفو مې قسم دے
ګوره شپه به وارخطا شي
دَ تيرو پهٔ تسلسل کښې
دَ سحر ستورے پَيدا شي

☆

پهٔ اُفق به دَ مِلت مې
دَ سبا ستورے ښکاره شي
لتهه شپه به کډه واخلي
سحر بانګ خو به موزده شي

☆

پهٔ سايه دَ خودداري کښې
ترخپل وسه دلداري کړم
دَ پښتو دَ ګُلستان مې
تل پهٔ وينو آبياري کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

ستا دَ مينې لپونتوبه سره ښايم
چې دَ وصل په هيله باندې دې پايم
کاشکې! ستا هَم نوائی خو مې نصيب وے
چې په غوږخه ژبه هم دې مکر ستايم

☆

بانګ دَ سحر چې مو خپې خپې دے
لرزه دَ شپې په کټ پوزې نۀ راځي
ځکه بيا ښکر دَ مُغلوالې ؤشو
دا چې مېدان ته يوسفزې نۀ راځي

☆

تسلسل دَ استحصال کۀ ستا نظام دے
خو غفلت او شرافت مې نن تمام دے
تاودې وينې مې احساس ته داسې ؤوې
خپلواکې دې بس اساس دَ استحکام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

دا حــاکم دَچــا مــرئې دے
دا قاضـــی دَچـــا دلال دے
اوس دې خَیــر دَچنـــې غـــواړه
مــل دَ غَــل ســره کوتــوال دے

☆

یو ذره به ئې رانهٔ شی څهٔ پهٔ خوا
کهٔ څوک کاندی چرې طمع لهٔ مُلا
کــار دَ ورکــړهٔ کلــه زده دَ کــوم ګــدا
عن کــه تخت دَ پاســه کښــېنی دَ باچا

☆

دَ عالم او دَ مُلا دے تفاوت
څو ئې ډېر دے سره مینځ کښې مُصلحت
دَ هر چا دے خپل صحت او خپل علت
باید کښېنې بېهٔ عالم ته پهٔ صحبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

پهٔ دُنیا کښې دَ هر چا دے بېل بېل کار
کا هُنر سره انصاف خپل هنرکار
نه چې زرو وَ ته کښېنوې لوهار
نه چې اوسپنې ته کښېباسې سُنار

☆

خال دَ مخ به دې مشال شي
تار دَ زلفو به دې تال شي
دا زوال به مې کمال شي
انفصال به دې وصال شي

☆

دَ صبا يوه ورږمه يم
لکه ګُل به دې خندان کړم
دَ باران شېبه مَرَه يَم
لکه باغ به دې ودان کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

کهٔ پهٔ عقل پهٔ شعور وی
خپل مراد به راحضور وی
کهٔ دَ بخت پهٔ حواله شی
بیا سرے گنړه مجبور وی

☆

خپل مو واک او خپل اختیار وے
پهٔ مرضئ مو زیست روزګار وے
دا تېپه دَ خپلواکئ مو
عن پهٔ سر باندې دَ دار وے

☆

دا چې ډېره بې وسی ده
یار، اغیار پهٔ کناره دے
دَ تا غم مې خوا پهٔ خوا دے
دَ تا یاد هم راڅخه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

ستا په زُلفو کښې چې وُرکې
وسوسې دَ تور بېګا دی
ستا له مخه برېښېدلې
علامې دَ سپين سبا دی

☆

دَ تا حُسن دَ تا مينه مې موضوع ده
کوم عنوان، کومې قيصې نه خبر نۀ يم
هر يو غږ مې ستا دَ وصل دَ حصول دے
بلې چغې او نارې نه خبر نۀ يم

☆

تۀ کۀ هسې نر سالار شوې
زۀ هُم هغه کلک سپاهی يم
تۀ کۀ هسې زورې امام شوې
زۀ هُم هغه مقتدی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



☆

دا حُجره ده، کـۀ اټـــۍ ده
دا کوڅـــه ده، کــــه بـــازار
رب هــم نــۀ وهــي بـې ګټـې
دا دي زيست دے کۀ روزګار

☆

ســتا يادونـه ښـۀ لـۀ تـا دى
روز وشب مې خوا پۀ خوا دى
دا څــو اوښــکې مــې مايــه ده
چـې ســتا آب لــره پَيــدا دى

☆

پــۀ ښــکاره دَ لارې مـــل
پـټ پـۀ زړۀ کښـې راتــه غَـل
پــۀ ظـاهِر راتـــه واصـــل
پــۀ بــاطن کښـې رانــه بيـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زهٔ چوزچې خدای هٔما کړم　　بیا وَ ما ته لوړ پرواز څهٔ
دې نظر، پنجو او پَر ته　　کوم باتور او کَته باز څهٔ

لا مې نور هسې الوت وے　　دَ سپوږمۍ ستورو نه بره
چې را لاندې هر رفعت وے　　دَ اسمان تر هاغه سره

زما عزم یې بس نهٔ وے
زهٔ بندی پهٔ قفس نهٔ وے

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**